# کاروباري مسایل

## او اسلامي حل لارې

ژباړه او زیاتونه: فیاض حمید

Ketabton.com



۱۳۹۴ لمریز کال

ketabton.com - The Digital Library



# کاروباري مسایل

# او اسلامي حل لارې

ژباړه او زیاتونه:

فیاض حمید

۱۳۹۴ لمریز کال

ketabton.com - The Digital Library



# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله
د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: کاروباري مسایل او اسلامي حل لارې

د پوښتنو او ځوابونو برخې لیکوال: عارف مولانا محمد یوسف لدهیانوی شهید

ژباړه او زیاتونه: فیاض حمید (۰۷۷۵۸۲۹۷۵۰)

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: ف. حمید

پښتۍ ډیزاین: رحمت الله خان امرخېل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۳۹۴ لمریز کال، ۲۰۱٦ زېږدیز کال

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۰۴)

د ژباړن د خپرونو لړ: لومړی

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسؤلیت لیکوال پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

**مور او پلار ته! چې يوازينۍ هيله يې زما پرمختګ دی او ټول عمر يې نازولی يم.**

**ف.حميد**

ketabton.com - The Digital Library



# لړلیک


| گڼه سرلیک | مخ |
|---|---|
| ۱. پښتو د پرمختګ پر لور | ۱ |
| ۲. له اسلامي اقتصادي نظام سره زما مینه | ٤ |
| ۳. سوداګري | ۷ |
| ٤. د سوداګرۍ مانا | ۸ |
| ٥. سوداګري پېژندنه (تعریف) | ۸ |
| ٦. د پلورلو او پېرلو طریقه | ۹ |
| ۷. مبیعه (سودا) او ثمن (بیه) | ۹ |
| ۸. مبیعه: | ۱۰ |
| ۹. د خرڅلاو طریقه: | ۱۰ |
| ۱۰. ثمن (بیه): | ۱۱ |
| ۱۱. د بیع جایزه طریقه | ۱۳ |
| ۱۲. بیع نسیه: | ۱٤ |
| ۱۳. بیع سلم: | ۱٥ |
| ۱٤. د راکړې ورکړې او مزدورۍ په اړه پوښتنې | ۱۸ |

ketabton.com - The Digital Library




۱۵. د راکړې ورکړې بېلابېل مسایل ........................۴۸

۱۶. له واک څخه د مخه مال پلورل (پوښتنې او ځوابونه) ................۶۱

۱۷. مشارکت، مضاربت او مرابحه ........................۶۵

۱۸. مشارکت........................................۶۵

۱۹. د مشارکت ډولونه: ................................۶۵

۲۰. د املاک شراکت:....................................۶۶

۲۱. د عقود شراکت:....................................۶۶

۲۲. مضاربت........................................۶۶

۲۳. د مضاربت ډولونه: ................................۶۸

۲٤. مقید مضاربت:........................................۶۸

۲۵. مطلق مضاربت: ......................................۶۸

۲٦. د مضاربت ځانګړتیاوې: ................................۶۹

۲۷. د مضاربت شرطونه: ..................................۶۹

۲۸. مرابحه ........................................۷۱

۲۹. د مرابحې شرطونه:....................................۷۲

۳۰. مشارکت، مضاربت او مرابحه (پوښتنې او ځوابونه) ................۷۳

۳۱. ربا (سود)........................................۸۲

۳۲. د تجارت او سود تر منځ توپیر ........................۸۳

ketabton.com - The Digital Library




۳۳. پوښتنې او ځوابونه........................................۸۵

۳٤. کور، زمکه، دکان او نور شیان په کرایه ورکول پوښتنې او ځوابونه ....۹۱

۳۵. د برخو (Shares) کاروبار (پوښتنې او ځوابونه) .....................۹۵

۳٦. احتکار .....................................................۹۹

۳۷. احتکار (پوښتنې او ځوابونه)....................................... ۱۰۰

۳۸. د قسطونو کاروبار ........................................ ۱۰۲

ketabton.com - The Digital Library



# پښتو د پرمختګ پر لور

سوداګري د انسانانو په ژوند کې ځانګړې ارزښت لري ، په نړۍ کې ډېر داسې هېوادونه شته چې یوازې په سوداګرۍ تکیه لري. سوداګري د هېوادونو په پرمختګ کې ډېر مهم رول لري، سوداګري په هېوادونو کې د بې وزلۍ کچه راکموي، پانګونه ډېروي ، د کاروبارۍ زمینې رامنځته کوي، د توکو بیې راټیټوي، د هېواد په داخل او بهر کې د خلکو تر منځ اړیکې ټینګوي.

که د اسلام له نظره هم وګورو، نو زموږ خوږ پیغمبر (محمد صلی الله علیه وسلم) هم په خپل ژوند کې سوداګري کړې او کاروبار ته یې ډېر خلک هڅولي دي، څو حلال رزق تر لاسه کړي .

زموږ هیواد کې هم سوداګري اوږد تاریخ لري، د ختیځ او لویدیځ تر منځ یې د پله بڼه لرله، له همدې لارې به چې د وریښمو لار نومېده، د ختیځ او لویدیځ ترمنځ سوداګري ترسره کېدله ، خو کله چې په نړۍ کې صنعتي اوښتون (انقلاب) رامنځته شو، د نړۍ په کچه ډېر لوی اقتصادي بدلونونه رامنځته شول په نړۍ کې ډېرې لویې ټرانزیټي لارې جوړې شوې، ټولې نړۍ سره د کلي بڼه غوره کړه او په ورته وخت کې

ketabton.com - The Digital Library



زموږ په هېواد کې جنګونه رامنځته شول، په همدې سبب زموږ هېواد کې سوداګري په بشپړه توګه له منځه لاړه.

خو له نېکه مرغه په هېواد کې د نسبي سولې په راتګ سره يو شمېر پرمختګونه وشول، د هېواد نړيواله سوداګري تر شپږو ميلياردو ډالرو پورې ورسېده، د دې تر څنګ د هېواد کورنۍ سوداګرۍ هم تر يوه بريده پرمختګ وکړ . له دې سره سره هېواد به مو په راتلونکي کې يو ځل بيا د لوی پرمختګ شاهد وي، ځکه دا هېواد د اقتصادي موقعيت له نظره ډېر مهم دی، له يوې خوا د جنوبي اسيا او مرکزي اسيا تر منځ د پله بڼه لري، له بلې خوا د ورېښمو پخوانۍ لار هم د جوړېدو په حال کې ده .

نو که د سوداګرۍ پورتني ارزښت ته پام وکړو، ډېره مهمه ده چې په دې اړه زموږ ليکوالان ډېرې ليکنې وکړي او د سوداګرۍ د اهميت په اړه ټولو هېوادوالو ته معلومات ورکړي، له يوې خوا به د ژبې د پرمختګ سبب وګرځي له بل پلوه به مو اړين معلومات هغو خلکو ته چې غواړي سوداګري ترسره کړي، مهيا کړي وي .

په دې کتاب کې د سوداګرۍ تر څنګ ډېر مهم کاروباري مسايل د اسلام له نظره څېړل شوي دي چې دا هم ډېر لوی پرمختګ دی او اسلام کاروبار ته ډېر اهميت ورکوي .

ketabton.com - The Digital Library



بیا هم له نیکه مرغه دې موضوع ته زموږ د ځوانانو پام شوی او غواړي په دې اړه لیکنې وکړي چې له دې جملې زما ګران او خوږ ملګری (فیاض حمید) دی چې د (کاروباري مسایل او اسلامي حل لارې)تر سرلیک لاندې یې دا کتاب ژباړلی او زیاتونه یې په کې کړې، لومړی ده ته او بیا ددې کتاب ټولو لوستونکو ته مبارکي وایم او له ده څخه مې هیله ده چې په دې اړه نور لیکل هم وکړي، تر څو د لوستونکو تنده پرې خړوبه شي، په پای کې ښاغلي (فیاض حمید) ته د لا بریالتوبونو غوښتونکی یم .

درنښت

محمد داود نیازی

ترناکه ، حیدراباد ، هندوستان

نیټه :۲۰۱۶/۰۲/۲۳

ketabton.com - The Digital Library



# له اسلامي اقتصادي نظام سره زما مينه

موږ په پوهنتون کې ډېر مضامين ولوستل، ډېر مې خوښېدل او له لږو سره مې بېخي علاقه نه وه، په پنځم سمستر کې مو (اسلامي بانکوالي) ولوسته، په دغه مضمون کې مو ډېر شيان ولوستل، خو په څه يې پوه او په څه يې پوه نه شوم، ځکه درس مو په انګليسي لوسته او په انګليسي- کې به استاد دومره تشريح نه راکوله، خو بس غټ غټ ټکي به يې ترې راواخيستل، خو په لوستلو يې زما فکر د اسلامي اقتصادي نظام پر لور راواوښت او ډېر لېواله شوم چې اسلامي اقتصادي نظام ولولم، ډېرى وختونه به مې کتابونه اخيستل يا به مې له ملګرو غوښتل، کله کله به مي په انټرنېټ کې هم کتل، ډېر وختونه به مې چې کله د کومې پوښتنې ځواب پيدا کاوه، نو په اردو ژبه به مې ترلاسه کړ، ځکه انټرنېټ په پښتو کې ډېر معلومات نه لري، نو مجبور وم چې په اردو کې يې پيدا کړم، يوه ورځ مې په انټرنېټ کې د يوې کاروباري مسئلې په اړه مالومات لټول، چې په (www.shaheedeislam.com) وېبپاڼه کې مي ترلاسه کړل، دا د يو ديني عالم (عارف مولانا محمد يوسف لدهيانوى شهيد) وېبپاڼه ده چې ټول اثار يې په همدې وېبپاڼه کې خوندي دي، (آپ کا مسايل اور ان کا حل) دا کتاب يې په (لس) جلدونو کې چاپ شوى چې (شپږم) جلد يې ټول د کاروباري مسايلو په اړه پوښتنې او د هغې ځوابونه دي، ما يې ددې برخې لوستل پيل کړل، څومره چې مې دا برخه لوستله، هغومره مې ترې خوند اخيست ، ډېرې داسې پوښتنې په کې مطرح شوې وې، چې زما په ذهن کې وې، خو پرې نه پوهېدم او د ځوابونو په لټه يې وم، د هغې ټولو پوښتنو ځوابونه مې ترلاسه کړل او د اسلامي اقتصادي نظام په اړه مې نور هم ډېر مسايل زده کړل، نو فکر مې وکړ چې دا پوښتنې

ketabton.com - The Digital Library



ټولې پښتو ته راوژباړم تر څو نور پښتانه ترې هم ګټه پورته کړي، په همدې موخه مې ددې وېبپاڼې چلوونکي ته ایمیل وکړ چې زه غواړم د نوموړي دیني عالم د اثارو (آپ کا مسایل اور ان کا حل) شپږم جلد چې د اقتصادي مسایلو په اړه دی، پښتو ژبې ته راوژباړم، هغه ډېر خوښ شو او زما لپاره یې له رب څخه د توفیق دعا وغوښته، ما په ډېر شوق ژباړه  شروع کړه او ټولې هغه پوښتنې مې راوژباړلې چې موږ ورسره په ورځني ژوند کې مخ کېږو، ددې تر څنګ مې له نورو ډېرو کتابونو او وېبپاڼو څخه د اسلامي اقتصادي نظام او اسلامي بانکوالۍ په اړه مالومات راټول او له دې سره مې یو ځای کړل، دا په دې خاطر که څوک پوښتنې لولي او له هغې مخکې لومړی د اسلامي بانکوالۍ په اصولو پوه شي، نو پر پوښتنو به هم یو څه اندازه له مخکې څخه پوه وي.

له یو څه اندازه مطالعې وروسته زه په دې ورسېدم چې یواځینی اقتصادي نظام چې هرې مسئلې ته حل لاره لري او د ژوند هر اقتصادي اړخ لپاره لارښوونه لري، هغه اسلامي اقتصادي نظام دی، که چېرې اسلامي اقتصادي نظام په یو هېواد کې په پوره ډول پلی شي، نو هغه هېواد به ډېر ژر د اقتصادي پرمختګ لوړو څوکو ته ورسېږي. په اسلامي اقتصادي نظام کې د ټولو هغو پوښتنو ځوابونه پیدا کېږي چې نور ټول اقتصادي نظامونه ورته ځواب نه لري.

د اسلامي اقتصادي نظام سره زما د مینې لامل همدا دی چې په دې نظام کې هر څه شته، هرې پوښتنې ته ځواب شته، هره ستونزه حل لري، هر وګړي ته حق ورکړل شوی، د هېڅ ډول ظلم حق یې چاته نه دی ورکړی، غریب په کې ښه په ارامه ژوند تېرولای شي، ان که په نړۍ کې پلی شي، نو هېڅ ډول اقتصادي ستونزه به رامنځته نه شي.

ketabton.com - The Digital Library



نور ستاسو او د کتاب تر منځ خنډ نه جوړېږم، په اخر کې له خپل ګران ماما (ضیاء الرحمن ضیا) څخه مننه کوم چې د کتاب په ژباړه او مالوماتو راټولو کې یې راسره مرسته وکړه، له ګران او زړه ته رانږدې ملګري او ځوان اقتصاد پوه (محمد داود نیازي) څخه غرونه غرونه مننه کوم چې هر وخت یې زه اقتصادي مطالعې او ژباړې ته هڅولی یم، باید ووایم چې نیازی لالا اوسمهال (۱۳۹۴ لمریز کال) په هندوستان کې د ماسترۍ پر زده کړو بوخت دی او نږدې ورځو کې به خپل هېواد ته ډکې منګولې راستون شي. که نن ستاسو په مخ کې دا کتاب دی، دا د نوموړي برکت دی، رب دې د خوښیو ډک عمر ورکړي.

دا زما لومړی اثر دی، چې ژباړه او زیاتونه ده، څرنګه چې انسان له غلطیو او تېروتنو خالي نه وي، نو کېدای شي، په دې کې کتاب کې له ما څخه هم ځینې سهوې او تېروتنې شوې وي، له ټولو لوستونکو څخه یې مخکې له مخکې بښنه غواړم، هیله ده بښنه راته وکړئ. او د اصلاح لپاره یې له ما سره په دې ایمیل ادرس (Fayaz.hamid۲۰۱۲@yahoo.com) اړیکه وکړئ. نور دا هم تاسې او دا هم (کاروباري مسایل او اسلامي حل لارې)...

د افغانستان اقتصادي پرمختګ په هیله

درنښت

فیاض حمید

کابل-۱۳۹۴/حوت/۵

ketabton.com - The Digital Library



# سوداګري

د انساني اړتیا د پوره کولو لپاره دوه سرچینې ډېر مهمې دي، یو سوداګري بل کرنه (زراعت)، خو په اوسني عصر کې زراعت او صنعت هم سوداګرۍ پورې اړه لري، که په یو هېواد کې تجارت په سمه توګه ترسره نه شي، نو هلته که غله هر څومره ډېره وي، داړتیا شیان هر څومره ډېر وي، بیا به هم په هغه هېواد کې د دغو توکو ډېر کمی او قیمتي وي. نبي علیه السلام فرمایلي، چې بني ادم (۹/۱۰) رزق د تجارت له لارې لاسته راوړي. د سوداګرو د ذهنیت جوړولو لپاره اسلام ډېر مثبت او منفي تدابیر راښودلي دي، چې دا تدابیر په دوه ډوله دي، یو اخلاقي او بل قانوني.

اخلاقي هغه تدابیر دي چې وویل شي دا کار د یو مسلمان د ایمان او عقیدې پر ضد دی. نو ځکه یې په اخرت کې نتیجه هم بده ده.

قانوني: که یو شخص ددې خلاف ورزي وکړي، په دنیا کې یې جزا ویني.

ketabton.com - The Digital Library



# د سوداګرۍ مانا

په خپل منځ کې اخیستلو او خرڅولو ته اسلامي شریعت سوداګري ویلی او همدارنګه (بیع و شراء) لفظونه یې ورته کارولي دي. د تجارت مانا د ګټې ترلاسه کولو لپاره اخیستل او خرڅول دي او د (بیع) مانا پلورل او د (شراء) مانا اخیستل او پیرودل دي، خو کله کله بیع د شراء او شراء د بیع په مانا هم کارول کېږي.

# سوداګري پېژندنه (تعریف)

په اوسني وخت کې سوداګري یوازې ګټه پورته کول دي، یعنې په هر څه کې چې ګټه ولیدل شي، هغه د سوداګرۍ په نوم ترسره کېږي، خو د اسلامي شریعت له نظره: یو ښه شی (حرام او ناوړه نه وي) د حلال شي سره په خوښۍ تبادله کول یا یې اخیستل او خرڅول سوداګري ده. هغه سوداګري چې له حلالې لارې څخه نه وي، یا د حرامو او باطلو شیانو سوداګري وي، په اسلامي شریعت کې ورته باطل او فاسد ویل کېږي، که په هغې کې هر څومره ګټه وي. همدارنګه که سوداګري په حلال مال ترسره کېږي، خو د دواړو لوریو خوښي په کې نه وي، نو دا سوداګري هم باطله شمېرل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



# د پلورلو او پېرلو طریقه

د اخیستلو او خرڅولو طریقه داده چې اول دې سودا ښه سمه وکتل شي، بیه دې ښه سمه وټاکل شي، یا که د شیانو تبادله وي، دغه ټول شیان دې وکتل شي او بیا دې ژبنی اقرار وشي، ژبنی اقرار دې په دې ډول وشي؛ زه دا شیان پلورم، په دې وخت کې دې سوداگر بیه ووایي او اخیستونکی دې سودا وگوري او وه دې وایي؛ زما قبوله ده.

د بېلگې په ډول: یو شخص دکاندار ته وویل؛ دا غنم سېر، کیلو یا چارک په څو دي؟ دکاندار ورته وایي؛ په څلوېښت افغانۍ، اوس که پیرودونکی ووایي؛ دا بیه زما قبوله ده، نو دا غنم وپلورل شو، یا که ووایي په (څلوېښت) نه بلکې په (دېرش) افغانۍ یې اخلم او دوکاندار ورته ووایي سمه ده، پیسې راوړه، نو په دې صورت کې هم بیع سمه ده، د اخیستونکي لپاره یې اخیستل او د پلورونکي لپاره یې پلورل حتمي شول. که له دوی څخه کوم یو انکار کوي، نو قانوناً به اړ کېږي، تر څو پلورل او پېرل ترسره کړي. دې قول او اقرار ته په شریعت کې ایجاب او قبول وایي.

# مبیعه (سودا) او ثمن (بیه)

په سودا او د هغې په بیه پربکړه کول اړین دي، ددې دواړو په اړه اسلام ډېر شرایط پلي کړیدي، چې دلته ورته نغوته کوو، سودا ته (مبیعه) او بیې ته (ثمن) وایي.

ketabton.com - The Digital Library



**مبیعه:**

۱- څه شی چې شتون ونه لري، د هغې پلورل غلط دي، د بېلګې په ډول، یو شخص په هندوستان کې دی، له امریکا څخه غله، جامې یا نور شیان اخلي، نو دا صحیح بیع نه ده، البته هغه په یو شرط دغه توکي راستولی شي چې اخیستونکی یې له لیدو وروسته اخري پرېکړه وکړي یا یې د هغې یوه بېلګه مخکې راستولې وي، په داسې حالت کې یې بیا اخیستل او پلورل جایز دي.

همدارنګه هغه شیان چې وجود ونه لري، د هغې پلورل او پېرل ناجایز دي، د بېلګې په ډول، په باغ کې مېوه نه ده رسېدلې، خو پلوري یې، یا غنمو وږي نه دي کړي، خو پلوري یې یا د څاروي بچی لا په نس دی، خو پلوري یې، نو دا ټول اخیستل او پلورل باطل دي.

۲- هر شی چې یو پلورونکی پلوري باید هغه یې په خپل ملکیت کې وي، یا یې مالک د پلورلو اجازه ورکړې وي. د بېلګې په ډول: یو شخص د سیند ماهیان، د هوا مارغان او د یوې دښتې واښه نه شي پلورلی، ځکه دا د هېچا په ملکیت کې نه دي.

**د خرڅلاو طریقه:**

۱- هغه توکي چې په تول، ګز یا شمېر پلورل کېږي، په هغې کې پلورونکی دا اختیار لري چې په تول، شمېر یا اندازه یې وپلوري.

ketabton.com - The Digital Library



۲- که پلورونکي (بایع) په یو ځای کې یو بار مېوه یا غله ایښې وي او وایي چې دا په دومره بیه پلورم، هم جایز دي.

۳- هغه ونې چې لومړی ګل کوي او بیا مېوه نیسي، د ګل نېونې پر مهال یې څوک نه شي پلورلی، باید په هغې کې مېوه راڅرګنده شي، د ګټې اخیستنې وړ وګرځي او بیا وپلورل شي.

۵ – که د دوه کسانو تر منځ ځمکه شریکه وي، نو یو شریک کولای شي خپله ځمکه وپلوري، که تر منځ یې وېشل شوې وي یا نه، یا یې پر خرڅولو بل شریک خوښ وي یا نه.

## ثمن (بیه):

د مال عوض ته بیه (ثمن) ویل کېږي، که عوض یې پیسې وي یا نور توکي. د بېلګې په ډول: د یو څاروي په بدل کې بل څاروی، یا د څاروی په بدل کې پیسې.

کله چې د پیسو په بدل کې پیسې او د شیانو په بدل کې شیان ورکول کېږي څو حالتونه لري، که لږ هم له بې غورۍ څخه کار واخیستل شي، د سود بڼه اختیاروي، په دې اړه دلته څو ټکي ذکر کوو:

۱- د بیې په واضح او ښکاره ډول ښودل اړین دي، که چېرې په پټ او ناسم ډول بیه وښودل شي، بیع فاسدېږي. د بېلګې په ډول: که یو شخص ووایي چې زما لاس کې چې څومره پیسې دي، غواړم په دې فلانی شی واخلم، نو دا جایز نه دي، یا دوکاندار ووایي: دا شی واخله څومره چې یې بیه ده هغه

ketabton.com - The Digital Library



درنه اخلم، یا فلاني چې څومره پیسې ورکړي ته یې هم ورکړه، یا بیه به یې درته بیا ووایم، نو په داسې حالت کې بیع فاسدېږي.

۲- قیمت یا هر څه چې په عوض کې ورکول کېږي، که هغه موجود وي، د هغې شمېر او اندازه ښودل مهم نه دي، که همدومره وویل شي چې دا غله د دې څاروي په بدل کې درسره تبادله کوم، هم سم دي.

۳- که د یو شي قیمت د پیرودلو پر وخت ورنه کړل شي، خو یوازې دا ووایي چې په دومره بیه دا شی اخلم او بیه به یې وروسته پرې کړم، نو دا هم صحیح دي.

۴- که یو څوک یو شی واخلي او ووایي چې هر کله باران شي، بیه به یې پرې کړم، نو دا بیع فاسده ده، د بیې پرې کولو ورځ او نېټه باید وښودل شي.

۵- که پیرودونکی یو شی په پور واخلي او د پور ورکولو نېټه ونه ښایي، نو دا قرض به د یوې میاشتې لپاره وي او باید یوه میاشت پس یې قیمت ورکړل شي.

٦- که یو شخص په پرلپسې ډول له یو دوکاندار څخه سودا اخلي او پیسې یې د میاشتې په اخر کې ورکوي، نو جایز دي، خو که قیمت یې ګونګ وساتل شي، یعنې قیمت یې نه معلوموي، نو بیا جایز نه دي، په دې حالت کې باید اول بیه معلومه کړای شي، بیا سودا واخیستل شي.

ketabton.com - The Digital Library



۷- که په یو هېواد کې هر ډول سکه دود وي، دوکاندار باید همغه واخلي، خو که دوکاندار میده پیسې نه اخلي، نو حق یې دی چې د مخه یې پیرودونې ته ووایي چې زه میده پیسې نه اخلم ماته به روغې پیسې راکوې. که په یو هېواد کې څو ډوله پیسې چلېږي، نو د پلورلو پر وخت باید په ډاګه شي چې په کومو پیسو یې پلوري؟

۸- که کوم مال په پور وپلورل شي او تر ټاکلې مودې پورې یې پیسې په یو ځل اخلي یا یې د قسطونو په ډول اخلي، دواړه جایز دي، خو د مودې ښودل او ټاکل دواړه اړین دي.

## د بیع جایزه طریقه

عموماً په درې طریقو اخیستل او خرڅول ترسره کېږي او اسلام دغه درېواړه طریقې جایز کړې دي:

۱- د اخیستنې او خرڅونې معامله یا تبادله لاس په لاس ترسره کول، یعنې په یو وخت اخستونکي ته مال او پلورونکي ته قیمت ورکول، چې دا د بیع تر ټولو غوره طریقه ده.

۲- سودا په همغه وخت خو قیمت یې قرض وي، دې طریقې ته په شریعت کې (بیع نسیه) ویل کېږي، دې راکړې ورکړې ته ددې لپاره اجازه ورکړل شوې چې اخیستونکي ته د توکو په رانیولو کې اسانی وي.

ketabton.com - The Digital Library



۳- قیمت مخکې پرې کول او سودا وروسته ورکول، دې ته په شریعت کې (بیع سلم) یا (بیع سلف) ویل کېږي، په دې طریقه کې بایع ته اسانتیا ورکړل شوې ده، خو په دې کې هم د اخیستونکي گټه پټه سمبال ده. اوس راځو (بیع نسیه) او (بیع سلم) ته:

**بیع نسیه:**

هغه راکړه ورکړه ده چې په پور ترسره شي، یعنې مال مخکې ورکړل شي او قیمت یې وروسته ورکول کېږي، په دې اړه باید څو ټکي په نظر کې ونیسو:

۱- په قرض معامله کې د پلورونکي خوښه حتمي ده، د هغه د رضا پرته پر یوې راکړې ورکړې د قرض پرېکړه کول جایز نه دي.

۲- د پیسو پرې کولو موده باید مالومه وي، چې په فلانۍ نېټه به زه پیسې پرې کوم، یا به په لوی اختر کې پیسې درکړم. که داسې وویل شي چې ژمي یا اوړي پورې پیسې درکوم، دا صحیح نه ده او دا هم صحیح نه ده چې وویل شي بیا به پیسې درکړم، یا چې هر وخت مې پیسې پیدا کړې در به یې کړم.

۳- د قرض سودا پلورنې وروسته، پلورونکی حق نه لري چې پلورل شوی مال بېرته راوگرځوي.

۴- د قرض پرې کولو موده د بایع په خوښه اوږدېدلای شي.

۵- که چېرې د قرض پرې کولو موده ونه ټاکل شي، نو بیا یې موده یوه میاشت ده، یوه میاشت پس باید پیرودونکی قرض لنډ کړي یا دې پلورونکي

ketabton.com - The Digital Library



ته ورشي او نوره موده دې ترې وغواړي، که پلورونکی د قرض پرې کولو لپاره نوره موده ورنه کړي، بیا به خامخا قرض پرې کوي.

٦- کله چې پلورونکی مال پیرودونکي ته حواله کړي، نو د قرض موده له همغ وخت څخه پیلېږي، که پلورونکی مال لس ورځې یا یوه میاشت پس پیرودونکي ته ورکړي، نو د قرض موده به هم لس ورځې یا یوه میاشت پس په همغه ورځ چې پیرودونکی مال ترلاسه کړي پیلېږي.

٧- که پلورونکی د بیې پرې کول د قسطونو په ډول وټاکي، نو بیا حق نه لري چې له مشتري څخه ټولې پیسې په یو ځل وغواړي.

٨- پلورونکی حق لري چې کوم مال په نغدو پلوري ارزان یې ورکړي او کوم مال چې په قرضو پلوري قیمته یې ورکړي، خو په دې مسئله کې د نظر اختلاف شته، البته د دواړو لوریو رضایت شرط دی او پلورونکی باید د مبیعې اصلي قیمت پیرودونکي ته وښایي.

## بیع سلم:

د قرض راکړې ورکړې یو ډول (بیع سلم) ده، یعنې پلورونکی قیمت مخکې ترلاسه کوي او په راتلونکي کې د مال تسلیمولو ژمنه کوي، دا ډول بیع هم جایز ده. بیع سلم د پلورونکي او مشتري دواړو د اسانتیا لپاره ده، په هر هغه شي کې بیع سلم جایز ده، چې په ژبه یا لیکلي ډول یې صفت او څرنګوالی کېدلای شي، ددې بیع د صحت لپاره څو شرایط ډېر مهم دي، که دا شرایط په کې شتون ونه لري، نو بیع سلم باطل کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



**لومړی شرط**: مال باید مخکې له اخیستنې څخه په تفصیلي ډول معلوم کړای شي او که مخکې له مخکې یې یوه نمونه وښودل شي، نو لا غوره ده. د بېلګې په ډول: د غلې په اړه باید معلومات ورکړل شي، چې غنم دي که وربشې؟ که غنم دي، نو کلک دي که نرم؟ سپین دي که سره؟ خاوره لري یا نه؟ بل ډول غله په کې ګډه ده که نه؟ وچ دي که لانده؟ که یو شخص ووایي چې هر ډول مال وي ماته یې راکړه، نو دا صحیح نه ده، ځکه په راتلونکي کې د جنجال او شخړې احتمال شته.

**دویم شرط:**دواړه لوري به د جنس نرخ یا بیه فیصله کوي، یعنې که غنم وي، نو دا باید معلومه شي چې یو سېر په څو افغانۍ دي او مشتري د څو افغانو غنم اخلي؟

**درېیم شرط**: د مال اخیستلو موده باید معلومه شي، چې په کومه میاشت، کومه ورځ به مال تسلیمېږي.

**څلورم شرط:**پیرودونکی باید د مال ترلاسه کولو ځای مشخص کړي او دا ووایي چې مال به په فلاني ځای کې راته سپارې، خو په دې شرط چې مال به یې کم نه وي، د بېلګې په ډول: که سل یا دوه سوه سېره غله وي یا څو توپه ټوکر وي، نو بیا یې معامله جایز ده، خو که مال یې لږ وي، لکه ساعت، جامې، قلم یا څو سېره غنم، نو بیا مشتري دا اجازه نه لري چې یو مشخص ځای ته یې وغواړي.

ketabton.com - The Digital Library



**پنځم شرط:** ټولې پیسې باید په یو وخت ورکړل شي، کـه څـوک معامله نـن وکړي او پیسې سبا ورکوي، نو پلورونکی دا حـق لـري چـې سبا ورځ لـه ننـۍ ورځې معاملې څخه انکار وکړي.

**شپږم شرط:** د څومره مودې لپاره چې معامله شـوې ده، پـه دغـه ټولـه مـوده کې به د معاملې جنس په بازار کې موجود وي، که هغه شی په بازار کـې ورک شي، نو بايع به افغانۍ بېرته ورکوي. دا شرط د احنافو علماء کرامو دی.

مگر امام شافعي، امام مالک او امام احمد رحمهم الله وايي؛ کوم وخـت چـې هغه مال ورکوي همغه مهال يې موجوديت په کار دی، په ټوله موده کې نه.

د مودې له تېرېدو وروسته که بايع مال ورنه کړ، نو بېرته به پیسې ورکوي، پـه دغو پیسو بل شی نه شي اخيستلای، يا به افغانۍ بېرته ورکوي او يـا بـه هغـه ته نور مهلت ورکوي.

ketabton.com - The Digital Library



# د راکړې ورکړې او مزدورۍ په اړه پوښتنې

**پوښتنه: په پلورلو کې څومره گټه کول روا دي؟ ددې کوم شرعي اندازه ټاکل شوې که نه؟**

ځواب: نه! د توکو پلورلو پر وخت د گټې کولو اندازه نه ده ټاکل شوې، خو د بازار له قیمت څخه یې په زیاته اندازه خرڅول او د خلکو له مجبوریتونو څخه ناوړه گټه اخیستل جایز نه دي.

**پوښتنه: زه غواړم ستاسو پام یوې مهمې مسئلې ته راواړوم، هغه دا چې که یو پلورونکی د توکو په پلورلو کې هر څومره ډېره گټه واخلي جایز ده؟ د بېلگې په ډول،که د رخت پلورونکی یو متر رخت په (لس) افغانۍ اخلي او هغه بېرته په (دېرش) افغانۍ پلوري، نو په داسې وخت کې د اصلي بیې څخه په دوه چنده ډېرې پیسې گټل سم دي؟ همدا بېلگه د**

ketabton.com - The Digital Library



**لاسي ساعت جوړونکو درکوم، که د یو شخص لاسي ساعت خراب شي او یو جوړونکي ته یې یوسي، نو هغه جوړونکی د ساعت د مالک د نابلدتیا څخه ناسمه ګټه پورته کوي او په (څلوېښت) یا (پنځوس) افغانۍ یې جوړ کړي، په داسې حال کې چې د جوړوونکي پرې ټول مصرف (څلور) یا (پنځه) افغانۍ راغلې وي او پنځه دقیقې وخت یې پرې لګېدلی وي، نو ایا د دغه شخص دا ګټه جایز ده؟ اسلام د فطرت دین دی، هېڅ‌چا ته به اجازه ورنه کړي چې د چا له نابلدتیا یا مجبوریتونو څخه داسې ناوړه ګټه پورته کړي، نو تاسو محترم راته دا په ډاګه کړئ چې په اسلام کې د ګټې ترلاسه کول څنګه او څومره دي؟**

ځواب: په شریعت کې د ګټې اندازه نه ده ټاکل شوې، چې دومره جایز ده او دومره ناجایزه، خو بیا هم شریعت د ظلم اجازه نه ورکوي. (کوم ته چې په عامه اصطلاح (د جېب وهل) ویل کېږي). کوم شخص چې د داسې ګټې ترلاسه کولو سره عادت وي، نو د هغې له ګټې څخه برکت الوځي. بله دا چې حکومت ته دا واک ورکړل شوی چې د ګټې ترلاسه کولو یوه مناسبه اندازه وټاکي او پر زیاتې ګټې ترلاسه کولو پابندي ولګوي.

**پوښتنه: هغه کوم شیږ شیان دي چې د تبادلې پر وخت به یو شان او نغد وي؟ ما یو حدیث اورېدلی چې په هغې کې د ځینو شیانو یادونه شوې وه چې د راکړې ورکړې پر وخت باید دواړه لوري یو شان وي، پوښتنه داده چې هغه کوم شیان دي چې په هغې کې د دې شرطونو په نظر کې نیول اړین دي؟ او که کوم شخص دا شرطونه په نظر کې ونه نیسي، نو ایا د هغه پلورل او پېرل حرامېږي که نه؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: کوم شیان چې په ناپ یا وزن پلورل کېږي، نو که د هغو متبادل توکي همجنس وي، نو اړینه ده چې دواړه توکي به یو برابر وي او دا راکړه ورکړه باید په یو وخت ترسره شي، په دې کې هم قرض کول ناجایز دي او هم کمی زیاتی. د بېلګې په ډول: که غوړي له غوړیو سره تبادله شي، نو په دې کې هغه دواړه خبرې ناجایز دي، هم په کې کمی کول ناجایز دي او هم قرض، خو که د غوړیو تبادله له وربشو سره وشي، نو کمی په کې جایز دی، خو قرض بیا هم ناجایز دی.

هغه حدیث دا دی چې:

"عن عبادة بن الصامت رضی الله عنہ قال: قال رسول الله صلی الله علیہ وسلم: الذهب بالذهب، والفضة بالفضة، والبر بالبر، والشعیر بالشعیر، والتمر بالتمر، والملح بالملح، مثلا بمثل سواءً بسواء یدًا بید. . . . الخ۔" (مشکوٰۃ ص:۲۴۴)

محمد صلی الله علیه وسلم د شپږو شیانو (سره زر، سپین زر، غوړي، وربشې، کجورې، مالګه) یادونه وکړه او ویې فرمایل: که کله سره زر له سرو زرو سره، سپین زر له سپینو زرو سره، غوړي له غوړیو سره، وربشې له وربشو سره، کجورې له کجورو سره او مالګه له مالګې سره تبادله کوئ نو باید یوه اندازه وي او په یو لاس یې واخلئ او په بل لاس یې ورکړئ، زیاتی او کمی کول په کې سود دی.

(مسندِ احمد ج:۲ ص:۲۳۲)

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: زموږ په کلیو کې دا دود دی، کله چې د یو شخص د کور غله د ده د کور لپاره بسنه نه کوي، یا دده د کور غله د کرلو وړ نه وي، نو هغه له یو خپلوان یا کلیوال څخه د اړتیا وړ غله په قرض اخلي، بیا کله چې نوی فصل ورسېږي او غله ترلاسه کړي، نو بېرته یې هغومره قرض شوې غله وروسپاري، ایا د احادیثو په رڼا کې دا طریقه درسته ده؟**

**بله دا چې که موږ وګورو، نو په هېواد کې مو هم د غنمو ډېر ډولونه کرل او رېبل کېږي، چې ددې غنمو په بیو کې هم توپیر شته، دلته د بېلګې په ډول زه د خپلې سیمې د غنمو له بېلابېلو ډولونو څخه یې فقط دوه ډولونه یادوم:**

**۱- (ګندم پاک ۸۱)، د سیمې په بازارونو کې د دې ډول غنمو یو (من) بیه له (۷۰) څخه تر (۸۰) افغانیو پورې ده.**

**۲- (ګندم سي۵۹۱)، د سیمې په بازارونو کې د دې ډول غنمو یو (من) بیه نږدې (۱۲۰) افغانۍ ده.**

**د لومړي ډول غنمو حاصل ډېر وي، خو په خوړلو کې د دویم ډول غنمو خوند له لومړي ډول څخه ډېر خوندور وي، همدا لامل دی چې تر منځ یې له (۴۰-۵۰) پورې توپیر دی. که چېرې ددې غنمو د تبادلې اړتیا پېښه شي، نو څنګه یې تبادله کولای شو؟ د قیمت له پلوه که د جنس د مقدار مطابق؟**

ځواب: کله چې د غلې تبادله له غلې سره کېږي، نو دواړه لوري باید یو جنس وي، که د دواړو نوع (ډول) هم توپیر ولري، نو بیا هم باید دواړه یو شان او

ketabton.com - The Digital Library



برابري وي او لاس په لاس باید راکړه ورکړه ترسره شي، کمی زیاتوالی هم جایز نه دی او له یو اړخه قرض هم ناجایز دی، تاسو چې د غنمو کوم دوه ډولونه یاد کړل، د دغې څخه د یو ډول غنمو (یو من) په بدل کې د بل ډول غنمو څخه (یونیم من) نه شئ اخیستلای، دواړه باید برابر او مساوي وي، که د دواړو بیې سره توپیر ولری، نو باید په خپل منځ کې سره تبادله نه شي، بلکه په بېلو بېلو بیو دې بېل بېل وپلورل شي.

**پوښتنه: ما له یو شخص څخه د سوداګرۍ لپاره پیسې وغوښتې، هغه راته وویل، چې ستا په سوداګرۍ کې چې څومره ګټه کېږي، په هغې کې به زما څومره برخه وي؟ زه هم هغه ته دومره پیسې وایم، چې هغه ماته په پیسو راکولو راضي شي. آیا په داسې قرض اخیستلو سوداګري کول، چې په هغې کې زه هم د مناسبې ګټې کولو تمه کوم، جایزه ده؟**

ځواب: له چا څخه پیسې اخیستل، په هغې سوداګري کول او بېرته هغې ته په ګټه کې برخه ورکول، دوه حالتونه لري، یو حالت دا دی چې دا په لومړي سر کې ذکر کړای شي چې په سوداګرۍ کې څومره ګټه کېږي په هغې کې به دومره (مثلاً:۲۱) سلنه د پیسو څښتن ته ورکول کېږي او دومره به د کار کولو والا ته او که په سوداګرۍ کې تاوان وشي، نو تاوان به د پیسو پر څښتن راځي، نو دا حالت سم او جایز دی.

دویم حالت دادی چې؛ که په سوداګرۍ کې ګټه وي یا تاوان، کمه یا ډېره ګټه وي، په هر حالت کې به د پیسو والا ته په یوه اندازه ګټه رسېږي. د بېلګې په ډول: ((یو کال یا شپږ میاشتې وروسته د دوه سوه افغانیو یا د ټولو پیسو (لس) سلنه به د پیسو څښتن ته ورکول کېږي)) دا حالت جایز نه دی. نو که ته له چا څخه د سوداګرۍ لپاره پیسې غواړې، لومړی حالت غوره کړه،

ketabton.com - The Digital Library



خو که پیسې د قرض په ډول اخلې، نو بیا پرې ګټه اخیستل او ورکول دواړه جایز نه دي.

**پوښتنه: کېهیو شخص پنځه وخته لمونځ کوي، له پلار سره د هغې په دکان کې کار کوي، پلار یې هر وخت پر دې دینداره زوی چې واده یې هم کړی، نیوکه کوي او ورته وایې: ((ته دکان کې د زړه له کومي کار نه کوې))، خو پلار یې نه حلال ګوري نه حرام. اوس یې زوی په دې فکر کې دی چې له خپل پلار څخه جلا او ځانله بله سوداګري یا دنده شروع کړي، ایا له پلار څخه ددې جلا کېدل شرعاً سم که نا سم کار دی؟**

ځواب: که له پلار سره یې وخت تېرول سخت وي او پلار یې هم د بېلېدو غوښتونکی وي، نو شرعاً بېل کار کولو کې هېڅ ستونزه نه شته، خو د پلار خدمت او نور جایز امرونه منل به په ځان عملي کوي.

**پوښتنه- په بېلابېلو مشتریانو باندې پر بېلابېلو بیو توکي پلورل: له موږ سره په دوکان کې ډول ډول توکي وي، کوم چې موږ حالاتو، وخت او مشتري ته په کتو سره په بېلابېلو بیو خرڅوو، ایا پر بېلابېلو مشتریانو باندې یو شان توکي په بېلابېلو بیو خرڅول سم دي، که نه د ټولو لپاره یوه بیه وټاکو؟**

ځواب: هر یو ته یې په یوه بیه ورکول اړین نه دي، له چا سره کمښت هم کولای شئ، خو د ناجایزې ګټې اجازه نشته او نه هم د چا له مجبورۍ څخه په ناسمې ګټې اخیستنې سره د لوړې بیې اجازه شته.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه- پرته له دې چې چاته ووایې، دا رخت عیب لري او پرې ویې پلورې: زه د رخت پلورلو سوداګري کوم، کله چې زما مشتري د رخت د ښه والي او بدوالي په اړه پوښتنه وکړي، نو زه ساده ځواب ورکړم، ډېر عیب یې نه بیانوم، په داسې حال کې چې زه د دغې رخت په اړه پوره مالومات هم لرم، ما له یو چا څخه واورېدل؛ هغه څوک مسلمان نه دی چې د خپلو توکو د پلورلو پر وخت مشتري ته د هغې عیبونه بیان نه کړي. ایا که مشتري له ما څخه د رخت په اړه پوښتنه هم ونه کړي، بیا به هم ورته د رخت عیبونه بیانوم، یا د هغې د پوښتنې کولو پر وخت یې باید بیان کړم؟**

ځواب: هو! د یو مسلمان سوداګر یا پلورونکي طریقه همدا ده چې پر مشتري د یو توکي پلورلو پر وخت هغې ته د نوموړي توکي عیبونه ووایي، یا لږ تر لږه دومره ووایي چې؛ ((وروره! دا رخت ستا پر وړاندې دی، ویې ګوره! زه ددې د هېڅ ډول عیب ذمه وار نه یم)). حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د رخت سوداګري کوله، یوه ورځ یې خپل ملګري ته وویل ؛ ((دا رخت عیب لري، مشتري ته یې وویل))او خپله چرته لاړو، ملګري یې د هغې په نه شتون کې هغه رخت خرڅ کړ، نو کله چې امام ابو حنیفه (رح) راغی پوښتنه یې وکړه، آیا تا ورته د دې رخت د عیب په اړه ویلي و؟ هغې منفي ځواب ورکړ، امام ابو حنیفه (رح) ډېر خواشینی شو او د هغې ورځې ټول عاید یې صدقه کړ.

**پوښتنه- په ژبه یا شفاهي ډول یو توکی اخیستل او بیا د قسم په خوړلو هغه په لوړه بیه پلورل: عمر، زید او بکر یو دوکان لري، عمر یې پلار، زید او بکر یې زامن دي، عمر ځي یو توکی په (۱۵) افغانۍ رانیسي، هغه بېرته خپل زوی (زید) ته وایي دا ما پر تا (۲۰) افغانۍ وپلوره، زید**

ketabton.com - The Digital Library



**يې خپل ورور (بکر) ته وايي چې دا ما بېرته پر تا په (۲۵) افغانۍ خرڅ کړ، نو چې کله مشتري د همدغې توکي د رانيولو لپاره راشي، زيد ورته قسم خوري او وايي چې دا ما په (۲۵) افغانۍ اخيستی، نو هغه توکی پرې بيا په لوړه بيه وپلوري، ايا په اسلام کې په دا ډول قسم خوړلو سوداګري کول سم دي؟**

ځواب: دا سوچه فريب او دوکه ده او دا سوداګري د دوکې او فريب سوداګري ده.

**پوښتنه: ځينې وختونه داسې خلک موږ ته راشي چې موږ پوهېږو دا به هرو مرو له موږ څخه سودا اخلي، ځکه يا هغه څه چې دی يې اخلي په بازار کې نه موندل کېږي، يا بل لامل وي، نو په داسې وخت کې پرې بيا موږ توکي په لوړه بيه پلورو، ايا په بيه کې دا ډول لوړوالی جايز دی؟**

ځواب: شرعاً که په هره بيه مال وپلورل شي جايز دی، خو که کله د چا له مجبورۍ څخه ناوړه ګټه پورته او مال پرې په قيمته بيه وپلورل شي نو دا به کاروباري زياتی وي.

**پوښتنه- د مشتريانو اخيستل او پلورل: کله چې د ورځپاڼو او شيدو پلورونکی کور کور ته د ورځپاڼو او شيدو رسولو کاروبار ښه قوي کړي، نو څه موده پس نوموړی پلورونکی هغه سيمه په بل سوداګر وپلوري چې دغې سيمې ته به ورځپاڼه يا شيدې رسوي، ايا دا ډول د مشتريانو پلورل او اخيستل جايز دي؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: د سیند ماهیان په ټېکه ورکول، باج اخیستل په ټیکه ورکول، دا دواړه کارونه دیني عالمانو ناجایز کارونه بللي دي، همدا ډول د مشتریانو پلورل هم ناجایز عمل دی او له هغې څخه لاسته راغلې پیسې هم حرامې دي.

**پوښتنه: که د کوم توکي بیه په بازار کې له خپلې اصلي بیې څخه څو چنده لوړه شي، نو په کومه بیه باید وپلورل شي؟**

ځواب: کوم شیان چې د پلورلو وړ وي، نو بازار کې دې وکتل شي چې دا په څومره قیمت ترلاسه کېږي؟ په همغې بیه دې دا هم وپلورل شي.

**پوښتنه: که یوه ښځه د مېړه په نه شتون کې د هغې توکي پرته له اجازې وپلوري، نو کله چې یې مېړه خبر شي، په قهر شي او عاجل د نوموړي توکي له پلورلو انکار کوي، ایا د ښځې دا اختیار جایز دی؟**

ځواب: هېڅ کومه مېرمن د مېړه له اجازې پرته د هغې هېڅ کوم شی نه شي پلورلی، مېړه د دغې راکړې ورکړې د ردولو یا منلو پوره اختیار لري.

**پوښتنه: زما ځینې ملګري د موټرو اخیستل او خرڅول کوي، ځینې داسې کوي چې یو شخص ته په (سل زره) افغانۍ موټر واخلي، بیا ورته وایي؛ یو یا یونیم کال وروسته به راته (یو سل او پنځوس زره) افغانۍ راکوې.زما په اند کوم خلک چې د سود کار کوي هغوی هم همدا ډول کوي.**

ځواب: که کوم شخص خپله په (سل زره) افغانۍ موټر واخلي او بیا کال وروسته یې په (سل زره) یا (یونیم سل زره) په قرض وپلوري، نو جایز دي، خو که د موټر رانیوونکي ته (سل زره) افغانۍ قرض ورکړل شي او دا ورته

ketabton.com - The Digital Library



وویل شي چې؛ یو کال وروسته به د (سل زره) په سر (پنځوس زره) اضافه اخلم، نو دا سود او حرام دي.

**پوښتنه: که کوم شخص یو موټر په (لس زره) افغانۍ په خپل نوم کړي او نورې پیسې به په شپږو میاشتو کې ورکوي او ګاډی به هم شپږ میاشتې وروسته ترلاسه کوي، خو دې ته یوازې یو رسید یا کاغذ ورکول کېږي، که همدغه شخص د نوموړي موټر په پلورلو کې ګټه ویني، نو کولای شي چې مخکې له دې چې موټر ترلاسه کړي، د رسید یا کاغذ له لارې هغه موټر چې دې یې بیانه ورکړې وپلوري؟ همدا ډول د دکان، کور او اپارتمان پلورلو مسئله هم راته تشریح کړئ.**

ځواب: کله چې یو شی واخیستل شي، نو تر هغې چې دغه شی یې په واک کې نه وي، مخکې یې پلورل جایز نه دي. د دوکان، کور او اپارتمان مسئله هم همدا ډول ده، تر هغې چې په واک کې یې نه وي، پلورلی یې نه شي.

**پوښتنه: عبدالغفار د یو جومات دکان په کرایه واخیسته او اقرار خط یې هم په سم ډول ولیکه، په دویم شرط کې یې لیکلي: ((نوموړی دکان ما د خپلې سوداګرۍ لپاره واخیست، تر کومه چې زما زړه غواړي، خپله سوداګري به په کې کوم، هېڅ کوم شخص حق نه لري چې ما په دې دوکان کې له کار کولو څخه منع یا خپله په هغې دوکان کې کاروبار وکړي او نه به هم دا دوکان په کوم ناسم ډول چاته په ټیکه ورکول کېږي، که دا ډول اجازه غوښتل وي، نو د اقرار خط له کمېټې څخه به اجازه اخلي، نو څه موده پس عبدالغفار دغه دوکان چاته ورکړي او په بدل کې یې مخکې پیسې واخلي، نو دویم شخص د دوکان مالک ته وایي؛ اوس د کرایې بلونه زما په نوم رالېږه. تاسو ووایئ، د تنظیم کمېټه**

ketabton.com - The Digital Library



**له دغې شخص سره څه وکړي؟ همدارنګه د عبدالغفار ضمانت هم له يادې کمېټې سره شته، چې کوم به د دکان خالي کولو پر وخت ورته سپارل کېږي.**

ځواب: عبدالغفار باید اقرار خط ته ژمن پاتې وای، خو اوس د جومات کمېټه کولای شي، د دغې دکان قرارداد له نوي شخص سره وکړي، خو د جومات کمېټه د لومړي دکاندار د ضمانت قبضه کولو هېڅ شرعي حق نه لري.

**پوښتنه: ایا مدعي ته د ټاکل شوي وخت مدعا علیه حاضرول اړین دي؟ که په کفالت کې دا شرط ذکر شوی وي چې زه به په ټاکلي وخت مدعا علیه حاضروم، خو په ټاکل شوي وخت یې حاضر نه کړای شي، نو د کفالت (ضمانت) کوونکي سره څه چلند په کار دی؟**

ځواب: که مدعا علیه مال وي او تر ټاکلې نېټې پورې حاضر نه کړای شي، نو هغه مال به له کفیل څخه اخیستل کېږي او که کفیل د شخص د حاضرولو ضمانت کړی وي او حاضر یې نه کړای شي، نو د مدعي په غوښتنه کفیل نظر بند کېدلای شي.

**پوښتنه- د (الله (ج)) نوم غاړکۍ پلورل او د هغې کارول: ځینې ښځینه او کوچنیان د (الله (ج)) نوم غاړکۍ په غاړه ګرځوي، ډېر لږ خلک یې حمام ته د تللو پر وخت لرې کوي، ګڼ شمېر خلک بې پروایي کوي، چې له امله یې د (الله (ج)) نوم بې قدري کېږي. د داسې غاړکۍ خرڅول او له هغې څخه ګټه پورته کول جایز دي که نه؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: داسې غاړکۍ پلورل جایز دي، بې احترامي کوونکی یې د بې احترامۍ خپله ذمه وار دی.

**پوښتنه: موږ د یخچال او ائیرکنډیشن کاروبار کوو، کله چې د یو شخص یخچال یا ائیرکنډیشن کې ګاز خلاص شي، نو موږ یې ورته د (۳۵۰) افغانیو په بدل کې اچوو، خو په دې باندې ډېر لږ مصرف راځي، کار یې هم تخنیکي دی، په ډېر فکر او احتیاط سره ترسره کېږي، که په دې کار کې تېروتنه وشي، نو د ډېر خطر امکان هم لري، چې بیا یې تاوان زموږ پر غاړه وي. ایا د داسې ډېرو پیسو اخیستل سم دي؟ که دومره پیسې وانخلو نو زموږ کاروبار به بېکاره وي. بله دا چې کله د مشتري یخچال یا ائیرکنډیشن داسې ستونزه ولري چې زموږ پرې هېڅ مصرف نه راځي، فقط د ګوتو په وهلو جوړېږي، یعنې له مغز څخه کار اخیستل وي، خو بیا هم موږ (۵۰) یا (۱۰۰) افغانۍ اخلو، ایا دا جایز دي؟**

ځواب: دا د کار کولو په بدل کې مزد اخیستل دي او د کار کولو په بدل کې مزد اخیستل جایز دي.

**پوښتنه: یو شخص د مېوې رسېدلو څخه مخکې باغ پلوري، ایا په دې باندې لسمه (عشر) شته؟ که ددې پیسې ټول کال پاتې شي زکات پرې راځي که نه؟**

ځواب: د مېوې رسېدلو څخه مخکې باغ خرڅول جایز نه دي، خو د دغې باغ ځمکه په کرایه ورکولی شي، په داسې حال کې پرې عشر نه شته، خو د کال په پوره کېدو پرې زکات اوړي.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: ما اورېدلي چې د جمعې اذان څخه وروسته اخیستل او خرڅول حرام دي، ایا دا صحیح دي؟ که دا خبره درسته وي نو بیا د کوم اذان څخه وروسته؟ لومړي که دویم؟**

ځواب: په قران کریم کې د جمعې د لمانځه اذان څخه وروسته اخیستل او خرڅول منع راغلي دي، (سورة الجمعه)، نو ځکه د جمعې له لومړي اذان څخه وروسته اخیستل او خرڅول او نور کاروبار جایز نه دی.

"یٰأَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ یَّوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰی ذِکْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ . سورة الجمعه ـ"

**ای مؤمنانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره اذان وشي، نو دخدای (ج) د یادولو لپاره په بیړه ورځئ او اخیستل او خرڅول پرېږدئ.**

**پوښتنه: ایا پیسې په پیسو بدلول جایز دي؟**

ځواب: له پیسو سره د پیسو بدلول جایز دي، خو دواړه طرفونه باید برابر وي، لږوالی او ډېروالی جایز نه دی او له دواړو اړخونو څخه باید پیسې نغدې وي، قرض هم جایز نه دی.

**پوښتنه: ځینې وختونه موږ د یو هېواد پیسې (ډالر یا ریال) اخلو او ددې په بدل کې د بل هېواد پیسې (افغانۍ یا کلداره) ورکوو، نو ایا په دې کې هم پر همدې وخت ببرته پیسې ورکول اړین دي؟ که اړین وي، نو جایزه بڼه به یې څه ډول وي؟**

ځواب: په دې راکړه ورکړه کې نغد ورکول او اخیستل ډېر اړین دي.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: که کوم شخص سره زر یا سپین زر کور ته د خوښولو لپاره راوړي، بیا یې خوښ کړي، خو پیسې یې څو ورځې یا څو موده وروسته پلورونکي ته ورکړي، نو ایا دا راکړه ورکړه سمه ده؟ که سمه نه وي، نو کومه طریقه یې سمه ده؟ ځکه دا شیان پرته له ښځینه وو ته د ښودلو څخه نه اخیستل کېږي.**

ځواب: کور ته یې د کتلو یا خوښولو لپاره راوړل جایز دي، خو کله چې یې اخلي، نو راکړه ورکړه باید له دواړو اړخونو څخه نغده وي، قرض نه کېږي، نو که کور ته د خوښولو لپاره یوړل شي، د خوښولو وروسته دې بېرته دکاندار ته راوړل شي، بیه دې پرې واچول شي، پیسې دې ورکړل شي او یاد شیان دې واخیستل شي.

**پوښتنه: موږ د سبزۍ پلورلو کار کوو، تاسو پوهېږئ چې د تازه ساتلو لپاره په سبزي باندې اوبه اچول کېږي، په دې کې ځینې داسې سبزي هم وي چې ډېرې اوبه څښي، ایا دا کار سم دی؟**

ځواب: ځینې داسې سبزیانې وي چې که اوبه پرې وانه اچول شي نو خرابېږي، نو له دې امله د اړتیا په حالت کې پرې اوبه اچول سم دي، خو اوبه دې د سبزۍ په بیه نه پلوري، بلکې همدومره بیه دې ورله راکمه کړي.

**پوښتنه: که له چا سره څه اندازه حرامې او څه اندازه حلالې پیسې وي، ټولې راټولې کړي او یو جایز کاروبار پرې شروع کړي، نو له دې څخه لاسته راغلې ګټه به څنګه وي؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: د ګټې حکم هم هماغه دی، کوم چې د اصلي مال دی، که اصلي مال حلال و، نو ګټه یې هم حلاله ده، که اصلي مال حرام و، نو د ګټې به یې هم همدا حال وي، خو که څومره اندازه یې په کاروبار کې حلال مال لګولی وو، همغه اندازه به یې ګټه هم پاکه وي، پاتې حرامه.

**پوښتنه: یو درزي غیر شرعي جامې ګنډي، لکه؛ د نرینه وو لپاره سوچه د وربښمو جامې ګنډي، یا یو کمپوزر ناروا شیان کمپوزوي او خپله روزي لاس ته راوړي، له دواړو سره کار کولو باندې عاید لاسته راوړل حرام دي که مکروه؟**

ځواب: د حرام کار کولو مزد هم حرام دی.

**پوښتنه: کوم توکي چې مونږ جوړ کړو، نو کله چې د هغې لپاره یوه بیه وټاکو، چې دا به په دومره بیه پلورو، نو که مونږ هغومره بیه دکاندار ته یاده کړو، په هغې بیه یې نه اخلي، څه نا څه راباندې کموي، که مونږ دا ستونزه په نظر کې ونیسو او بیه لږه لوړه ووایو تر څو د مشتري د نرخ کولو له امله اوسط نرخ ته راشي، نو ایا داسې کار کول جایز دي یا په درواغو کې شمېرل کېږي؟**

ځواب: لوړه بیه ښودل او له هغې څخه یې بیا کمول خو درواغ نه دي، نو ددې لپاره جایز دي، خو د سوداګرۍ د اصولو له مخې دا کار غلط دی، یو نرخ ووایه، په سر کې به خلک درڅخه خواشیني وي، خو کله چې ټولو ته دا په ډاګه شي چې ته له بازار څخه په کم نرخ توکي پلورې او ستا اصول همدا دي، نو خواشیني به یې ختمه شي او بیا به ارام احساس کړي.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: کوم توکي چې په وزن پلورل کېږي، د پلورلو پر وخت ددې په وزن کولو کې د رانیوونکي شتون اړین دی؟ آیا هغه په دکاندار اعتبار کولای شي؟ که اعتبار کولای شي، نو کله چې دده واک ته ورسېږي، بیا یې د خپل ډاډ ترلاسه کولو لپاره وزن کول اړین دي؟ یا بې له دې چې وزن یې کړي استعمالولای یا بېرته یې پلورلای شي؟**

ځواب: کوم توکي چې په وزن پلورل کېږي، هغه درې حالتونه لري:

لومړی حالت دادی چې کله پلورونکي دغه شیان وزن کول، نو پېرودونکی یا یې استازی موجود و، نو په داسې حالت کې د بیا پلورولو پر وخت یې وزن کول اړین نه دي، بې له وزن کولو یې بېرته پلورلی شي او خپله یې هم خوړلی یا کارولی شي.

دویم حالت دا دی چې، هغه وخت اخیستونکی یا د هغه استازی موجود نه و، کوم وخت چې پلورونکي شیان وزن کړل، نو په داسې حالت کې د نوموړو توکو کارول او د هغې بېرته پلورل جایز نه دي، خو که پلورونکي ته دا وویل شي؛ چې په دې پلاسټیک کې چې څومره شیان دي، که لږ وي یا ډېر، په دومره بیه یې اخلم، نو بیا یې د دویم ځل لپاره د وزن کولو اړتیا نه شته.

دریم حالت دادی چې که د بوجو، پلاستیکونو یا تلو په حساب سره اخیستل او خرڅول وي، نو که د دې وزن کم یا ډېر وي، د بېرته وزن کولو اړتیا یې نه وي.

**پوښتنه: د ترانسپورټ کاروبار ډېر وخت داسې کېږي چې؛ یو شخص یو موټر په نغدو په (۵۰۰۰۰) واخیست، پر بل شخص یې بېرته په**

ketabton.com - The Digital Library



**(٦٠٠٠٠)په قرض وپلوره، اخیستونکی به هره میاشت (درې زره) افغانۍ د قسط په ډول ورکوي، خو په دې اخیستلو او خرڅولو کې یو شرط دا کېښودل کېږي چې دا پیسې به پر موټر وي، پر شخص به نه وي، که موټر چېرې وسوزي یا ورک شي، نو خرڅوونکی له اخیستونکي څخه پیسې نه شي اخیستلای، دا شرط ډېر مشهور وي، فرق نه کوي که د خرڅولو او اخیستلو پر وخت یې څوک یادونه وکړي یا نه، په هر حال په دې عمل کېږي او که اخیستونکي هر څومره پیسې پرې کړې وي، د موټر په له منځه تللو سره هغه هم ضایع کېږي.**

**۱- ایا دا ډول اخیستل او خرڅول د شریعت له مخې جایز دي؟**

**۲- که جایز نه وي، نو له دې څخه ترلاسه شوې ګټه په سود کې حسابېږي که نه؟ دا پیسې به په اخیستونکي وي یا پر موټر؟ او د موټر کاغذونه به هم تر هغې وخته د موټر له پلورونکي سره وي ترڅو چې قرض خلاص نه شي، ایا له دې سره په راکړه ورکړه کوم اثر پرېوځي که نه؟**

ځواب: د شریعت له قانون سره سم کله چې ایجاب او قبول بشپړ شي، نو اخیستل او خرڅول هم بشپړ کېږي او پر پلورونکي واجب کېږي چې پیرودونکي ته مال وسپاري او په پیردونکي واجب کېږي چې پلورونکي ته د مال بیه پرې کړي، په دې کې هېڅ فرق نه شته چې د قیمت له پرې کولو څخه مخکې مبیعه (اخیستل شوي توکي) له منځه ولاړ شي، ضایع شي یا خراب شي، په هر حالت کې په پیرودونکي واجب دي چې بیه یې پرې کړي، ځکه د بیې اړیکه له اخیستونکي سره ده نه د مال سره، یعنې قیمت په اخیستونکي واجبېږي، نه په مال. په راکړه ورکړه کې داسې شرط لګول چې؛

ketabton.com - The Digital Library



((که د بیې پرې کولو څخه دمخه مال له منځه ولاړ شي نو پاتې پیسې به هم له منځه ځي)) شرعاً فاسد دی او له داسې شرط سره اخیستل او خرڅول ناجایز دي. که کوم شخص د یاد شرط سره پلورل او اخیستل وکړي، نو په هغې شرعاً دا واجبېږي چې دا راکړه ورکړه ختمه کړي او دغه فاسد شرط له منځه یوسي او بېرته له سره نوي پلورل او پېرل وکړي. که له داسې ناوړه شرط سره د راکړې ورکړې کولو وروسته مبیعه (مال) له منځه ولاړ شي، چې بیه یې هم په پوره توګه نه وي پرې شوې، نو د دغې راکړې ورکړې د نه منسوخ کېدو له امله د پیرودونکی د بیې پرې کولو ذمه واري نوره هم مستحکمه کېږي، خو پر پیرودونکي شرعاً بیه پرې کول دي، هو! که پلورونکی د مال له منځه تلو وروسته پیرودونکی معاف کړي نو هېڅ ستونزه نه شته. په یاد حالت کې د بیعې فاسد کېدو سره چې موټر د مشتري په واک کې و، د اخیستونکي په واسطه له موټر څخه ګټه اخیستنه جایز ده. که پلورونکی د پوره بیې ترلاسه کولو تر مودې د موټر کاغذونه له ځان سره وساتي، په دې کې هېڅ ستونزه نه شته، خو د ملکیت حق یې مشتري ته ورکول اړین دي.

**پوښتنه: څرنګه چې تاسو پوهېږئ، د اسلام دین پر موږه ناجایزه ګټه ترلاسه کول حرام کړي دي، نو که یو مسلمان ټوله ورځ زیار وباسي، مزدوري کوي، یا کوم کاروبار یا سوداګري کوي، په زیار ویستلو خپل مزد اخلي، خو کومې پیسې چې دی یې لاسته راوړي، هغه د حرامو پیسې دي، نو ایا په دې شخص هم هغه پیسې حرامې دي؟ په داسې حال کې چې دې شخص د مزدوري کولو له لارې لاس ته راوړې دي.**

ځواب: که د نوموړي شخص کار کول او مزدوري شرعي وي، نو مزد یې هم حلال دی، خو په دوه شرطونو، یو دا چې کار به یې سم کړی وي، په کار

ketabton.com - The Digital Library



کې يې لټې او غفلت نه وي کړی، دويم دا چې کوم کار يې چې کړی شرعاً جايز هم دی، له دې وروسته که مالک ورته له حرامو پيسو څخه مزد ورکوي، نو نه دې قبلوي، بلکه هغه دې اړ کړي تر څو له يو چا څخه ورته حلالې پيسې واخلي او دده مزد ورکړي. د هغې له حرامو پيسو څخه مزد اخيستل به جايز نه وي، که دا مالومه وي چې د فلاني شخص يا ادارې ګټه حرامه ده او د حرام کار کولو له لارې پيسې لاسته راوړي، نو د هغې سره بايد مزدوري يا کار ونه کړای شي.

**پوښتنه: ايا د داسې شيانو جوړولو ټيکه چې په هغې کې د ګټې او تاوان دواړو احتمال وي، جايز ده که نه؟ په داسې ټيکو کې ځينې وختونه ډېره ګټه ترلاسه کېږي، ځينې وختونه ډېر تاوان.**

ځواب: دا ټيکه جايز ده.

**پوښتنه: د دولتي ټيکو د بولۍ پر وخت، ټول ټيکداران يو ځای شي او دا پرېکړه وکړي چې ټيکه به فلانی شخص اخلي او د ټيکې په بدل کې به نورو ټيکدارانو ته پيسې ورکوي چې خپل منځ کې يې وويشي. دا ټيکداران بيا دا جواز وړاندې کوي.**

**۱- موږ دولت ته فيس ورکړی دی.**

**۲- د دې ټيکې لپاره موږ (۲٪) د ضمانت په ډول پيشکي ورکړې.**

**۳- د ټيکې اخيستلو په خاطر مو د بولۍ فارم لپاره (۵۰۰) افغانۍ پرې کړې، چې بېرته نه راکول کېږي، که ټيکه موږ واخلو يا نه. نو دا پيسې**

ketabton.com - The Digital Library



**چې موږ پاتې ټېکداران يې په خپل منځ کې ويشو دا زموږ د زيار، پانګې او فيس له امله حق جوړېږي.**

**په دې ډول ټيکدار دغه بولي په لوړه بيه اخلي چې ډېرې پيسې ورته په کې پاتې شي، د سيالۍ په وخت کې هر ټيکه دار ټيټه بيه وايي. شرعاً دا ډول بولي اخيستل څه حکم لري؟**

ځواب: دا پيسې د رشوت په بڼه دي، چې ناجايز دي، اخيستونکی يې حرام خوري. د سيالۍ څخه د بچ کېدو لپاره دوی داسې هم کولای شي، چې په خپل منځ کې پرېکړه وکړي چې فلانۍ ټيکه فلانی او فلانۍ ټيکه به فلاني اخلي، په دې توګه به ټولې ټېکې په خپل منځ کې وويشي.

**پوښتنه: په دولتي ادارو کې دا يو ډول دود دی چې کله يو بڼه کار هم کوې، مامورين درڅخه خپل کمېشن غواړي، که ستا کار هر څومره صحيح کار وي، که د حکومت يا ادارې له اصولو سره سم هم وي، بيا هم کمېشن نه پرېږدي او کار دې نه قبلوي، که کمېشن ورنه کړې نو ټيکداري پرېښودلو ته دې اړباسي، خو ټيکداري زما مجبوري ده، نو کمېشن ورکول څنګه دي؟ او زما د ټېکدارۍ پاتې ګټه يا پيسې څنګه دي، جايز که ناجايز؟**

ځواب: دا هم رشوت دی، که د ظلم د رفع کولو لپاره رشوت ورکړل شي، نو تمه شته چې رشوت ورکوونکی پړ نه وي، خو رشوت اخيستونکی هر وخت حرام خوړونکی دی.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: په ټېکه کې ځینې ملګري رییسان ټیکدار ته د خواخوږۍ په موخه شیان ډېر لیکي، لکه: که ځمکه یې (۹۰) متره کنستلې وي، نو رییسان ورته د (۱۰۰) مترو پیسې ورکوي. د لس مترو ډېرې پیسې څنګه دي؟**

ځواب: دا سوچه حرام دي.

**پوښتنه: ایا په اسلام کې شفعه کول جایز دي؟ لکه؛ څرنګه چې والدین پر بل شخص د خپل جایداد څه برخه یا ټول جایداد خرڅ کړي، نو ایا د دوی اولادونه یا خپلوان د شفعه کولو حق لري؟ او دوی د اسلامي اصولو له مخې د هغې جایداد بېرته اخیستلو حقدار دي که نه؟**

ځواب: په اسلام کې د شفعه حق جایز دی، خو مسایل یې دومره نازکه دي چې خلک پرې نه پوهېږي، لنډه دا چې د امام ابو حنیفه په نزد د شفعه حق یوازې درې ډوله خلک لري:

اول: هغه خلک کوم چې په پلورل شوي جایداد (کور، زمکه) کې شریک او یا برخه لري.

دویم: هغه شخص چې په جایداد کې شریک نه وي، خو د جایداد اړوند شیانو کې شریک وي، لکه: د دوه کورونو منځ کې شریکه لار، یا د زمکې خړوبولو شریکه ویاله.

درېیم: هغه شخص د چا چې له خرڅ شوي جایداد سره کور یا زمکه نښلېدلې وي.

ketabton.com - The Digital Library



دغه درې ډوله خلک د شفعې حق لري، يعنې لومړی هغه شخص چې جایداد کې شریک وي، بیا هغه چې د جایداد اړوند شیانو کې شریک وي او بیا ګاونډي. که لومړی شخص شفعه کول ونه غواړي، نو بیا یې دویم شخص کولای شي، که دویم یې هم ونه غواړي نو بیا یې دریېیم شخص کولای شي.

نو له دې څخه مالومېږي، چې د پلورونکي اولاد یا خپلوان په دې درې ډوله خلکو کې نه دي، نو دوی هېڅکله په دې نوم چې د جایداد پلورونکي اولاد یا خپلوان دي د شفعه حق نه لري.

نو هغه شخص چې د شفعه حق لري او د جایدا له پلورلو خبر شي، بې له کوم ځنډه باید اعلان وکړي چې؛ ((فلانی کور پلورل شوی او زه پرې د شفعه حق لرم، زه به دا خپل حق کاروم)) او د خپل دې اعلان شاهدان هم باید جوړ کړي.

بیا دې هغه د پلورونکي یا پیردونکي (چې جایداد د چا په واک کې وي) خواته ولاړ شي، یا دې خپله د هغې زمکې خوا ته ولاړ شي او دا اعلان دې وکړي، نو بیا به یې د شفعه حق پر ځای وي، که چېرې نوموړی شخص د جایداد له پلورنې خبر شي خو غلی پاتې شي او سمدسته د شفعه اعلان ونه کړي، نو دی د شفعه له حق څخه محرومېږي. د دغې دوه کارونو ترسره کولو وروسته دې بیا محکمې ته ولاړ شي او هلته دې د خپل استحقاق ثبوت حاضر کړي.

**پوښتنه: زما یو ملګری صراف دی، د هغه پلار ته خلکو سره زر د جوړولو لپاره ورکړي وي، خو پلار یې نږدې شل کاله مخکې په حق رسېدلی، له**

ketabton.com - The Digital Library



**وفات کېدو وروسته يې ځينې خلک راغلل او خپل سره زر يې يوړل، خو اوس هم ځينې داسې ځينې خلک شته چې د خپلو سرو زرو د بېرته اخيستلو لپاره نه دي راغلي، نو اوس هغه ملګرى دا پوښتي چې له دې سرو زرو سره څه وکړي؟**

ځواب: په عامه توګه د صرافانو سره د خپلو مشتريانو نومونه ليکل شوي وي، نو د کومو خلکو امانتونه چې يې له پلار سره ايښي وو، که د هغې نومونه او ادرسونه هم پيدا شي، نو کور ته يې خبر ورکول ډېر مهم دي، که ادرس يا پته نه وي، نو بيا له کومې ممکنې لارې اعلان کول په کار دي، که له اعلان کولو څخه يو کال تېر شي او څوک رانه شي، نو ددې حکم به د ورک شوي مال وي، خو که د صدقه کولو وروسته يې مالک يا وارث پيدا شو، نو د هغې خبرول اړين دي، بيا د هغې اختيار دى، چې صدقه په خپل حال پرېږدي يا خپل مال بېرته اخلي.

که هغه د خپل مال غوښتنه وکړي، نو کومې پيسې چې دغه شخص صدقه کړې دي، هغه به د دې له خوا په صدقه کې حساب شي او د مال څښتن ته به همدومره پيسې ورکوي، نو ددې لپاره د ورک شوي مال د صدقه کولو پر وخت دا مهمه خبره ده چې په يو کاغذ دا وليکل شي چې؛ ((د فلاني شخص دومره سره زر، يا پيسې د څښتن د نه پيدا کېدو له امله د هغې له خوا صدقه شوې، که کله دغه شخص يا يې خپلوان پيدا شي او د خپل مال ترلاسه کولو غوښتنه يې وکړه، نو دوى ته به د خپل مال بدله ورکول کېږي.)) دا ليک دې د يوې وصيت نامې په ډول وساتل شي.

**پوښتنه: زما ورور د جامو ګنډلو دکان جوړ کړى، دا يې د دکان لومړى کال و، په روژه کې خياطانو ته ډېر کار راځي، نو زما ورور ته هم ډېر کار**

ketabton.com - The Digital Library



**راغی، له رخت څخه ډېرې زیاتې ټوټې پاتې شوې، زما ورور وايي؛ مشتریان خپله د یو جوړ جامو لپاره پنځه یا شپږ متره رخت راوړي،که زه په خپله خوښه رخت غوڅ کړم او یو څه ټوټه ترې پاتې شي، نو دې کې خو به کومه ستونزه نه وي؟ ځینې وختونه له یو کور څخه څو جوړه جامې په یو رخت او یو رنګ کې راځي، نو چې کله یې غوڅه کړم، ډېر رخت ترې پاتې کېږي، کومه چې د ګټې اخیستنې وړ وي، دغه پاتې شوی رخت په خپل کور کې کارولی شو که نه؟او که دا رخت کوم غریب ته ورکړو نو دا کار سم دی؟ یا دا رخت بېرته مشتري ته ورکول اړین دي؟**

ځواب: کوم رخت چې پاتې شي، هغه یې د څښتن دی، ددې بېرته ورکول مهم دي، ددې خپله کارول یا کوم غریب ته ورکول جایز نه دي، کنه د غلا یا خیانت ګناه به وي.

**پوښتنه: موږ چې چېرې اوسېږو، هلته تر اوسه برېښنا نه ده رسېدلې، خو د برق برج نزدې دی، نو ځینې خلک په کې کنډه واچوي او کورونو ته برق ورکوي، په بدل کې یې له هر کور څخه سل افغانۍ اخلي، چې دا کار غلا او د قانون خلاف کار دی، دا برق زموږ کور ته هم راتېر شوی دی، ددې برق په رڼا کې موږ لمونځ کوو، دا جایز دی که نه؟ او په دې اړه زه باید څه وکړم؟ ځکه زما په منع کولو خلک له دې کاره لاس نه اخلي، هغوی وايي موږ پیسې ورکوو، څه وړیا خو یې نه کاروو.**

ځواب: که غل غلا وکړي او سامان پلوري او تاته مالوم شي چې دا د غلا مال دی، نو د هغې اخیستل جایز نه دي، بلکې حرام دي، همدا حکم د دغې برېښنا هم دی.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: زموږ په کلي کې یو ځای د جنازې لپاره وقف شوی و، خو د پام نه کولو له امله هغه د چټلتیا ښکار شو او هلته جنازه کول بند شول، اوس هلته د کلي خلکو لپاره کوهی جوړ شوی دی، خو زموږ د کور تر څنګ لږ ځای پاتې دی، زموږ کور ډېر تنګ دی، زړه مو دی چې دغه ځای واخلو او کور مو پراخه کړو، که دا ځای زموږ لپاره جایز وي، نو دا اخیستلای او کارولای شو؟**

ځواب: د وقف شویو شیانو اخیستل او خرڅول جایز نه دي، که هغه ځای چا وقف کړی نه وي، بلکه خلکو تش ځای لیدلی وي او د حکومت د اجازې پرته یې هلته د جنازې ځای جوړ کړی وي، خو د وقف نیت یې نه و کړی او نه یې د حکومت څخه منظوري راخیستې وه، نو ددې خرڅول او تاسو ته یې اخیستل جایز دي.

**پوښتنه: زه چې اوس کوم ځای کې کار کوم، هغه یوه ټولنیزه اداره ده، زه هلته شپه او ورځ کار کوم، په منځ کې د ډوډۍ خوړلو دمه هم لرو، مسئله داده چې زه دلته یوازې نوکري کوم، زه له دوی سره هېڅ ډول شراکت نه لرم، یوازې نورکري کوم، (یونیم) کال مخکې چې ما له دوی سره کار پیلوه، نو له دوی سره مې پر (۲۲۰۰) افغانۍ تنخوا پرېکړه وکړه، خو ما ویل که (۲٦۰۰) یا له دې څخه هم زیاته وي، نو ډېره به ښه وي، خو هغوی ونه منله او دا یې راته وویل چې موږ به تاته د ادارې له عاید څخه (۵)سلنه کمېشن درکوو، کوم چې هره میاشت (۵۵۰) افغانۍ یا له دې څخه ډېر او کم کېږي، تاسو ددې د جایز یا ناجایز کېدو په اړه مالومات راکړئ او زما خواشیني لرې کړئ.**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: ستا معاش خو همغومره دی، څومره چې تاکل شوی دی، کوم پنځه فیصده کمېشن چې درته دوی ویلای و، که دوی یې په رضا درکوي جایز دی.

**پوښتنه: زه په استرالیا کې اوسېږم، د دې ځای خلک تر ډېره مسمانان نه دي، ددې هېواد په خوراکي توکو کې د ګڼ شمېر حرام ځناورو غوښه یو ځای کېږي، ایا دا ډول شیان پلورل جایز او عاید یې حلال دی؟**

ځواب: په کومو توکو کې چې د حرامو حیواناتو وازده (غوړي) کارول شوي وي، شرعاً د هغې کارول جایز نه دي او د کومو شیانو چې کارول جایز نه وي، د هغې پلورل هم جایز نه دي او عاید یې هم حلال نه دی.

**پوښتنه: نن سبا په خلکو کې دا کار ډېر عام شوی چې د بازارونو چوکیداري پر یو بل پلوري، دا په داسې حال کې چې لومړي چوکیدار په دې بازار هېڅ ډول قیمت نه وي پرې کړی او نه یې پرې کوم زیار باسلی وي، نو په دې نوکرۍ پیسې اخیستل حلال دي، که حرام؟ یا د داسې کمپنۍ ګارډ وي چې په هغې کې عام خلک دنده نه شي ترلاسه کولای، لکه په ځینو کمپنیو کې حکومت مزدورانو ته یو کارډ ورکوي، چې هغه مزدوران بیا خپل کارتونه نردې په یو لک افغانۍ پلوري، خلک یې په ډېرې خوښۍ اخلي. ایا د داسې کارډونو پلورل او پېرل حرام دي که حلال؟**

ځواب: ذکر شوي حقوق اخیستل او خرڅول صحیح نه دي، له دې څخه لاسته راغلی مال حرام دی.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: ځینې سوداګر چې موږ ورسره مخامخېږو، د خپل مال پلورلو په خاطر په (پنځه) دقیقو کې ګڼ شمېر قسمونه خوري او وایي: ((دا نرخ د ایماندارۍ نرخ دی)). که هغه نرخ یې رښتیا وي یا دروغ، ځینې بیا په نرخ کې لږوالی کوي او وایي: ((موږ ستا په خاطر لږ تاوان وکړ، په الله قسم چې تاوان کوو، په قران قسم چې له تا څخه مو یوه انه ګټه هم نه ده کړې)). آیا داسې هم کېدلای شي چې محترم سوداګر زموږ له خاطره تاوان وکړي؟**

ځواب: د دروغو قسم خوړل لویه ګناه ده، که څوک په دې ډول قسمونو خوړلو عادت شوي وي، نو باید توبه وباسي او ځان اصلاح کړي. د مال پلورلو لپاره قسم خوړل خو نور هم ناسم کار دی، په حدیث کې راځي چې د قیامت په ورځ به سوداګر خلک د بدکارو په حیث راپاڅېږي، پرته له هغې سوداګرو څخه څوک چې له الله (ج) څخه وېرېږي او له دروغو ویلو ځان ژغوري.

پوښتنه: ۱- په دکاندارۍ کې دروغ ویلو سره رزق حرامېږي یا نه؟

۲- که په دکاندارۍ کې دروغ ویلو سره رزق حرامېږي، نو په صدقې او زکات ورکولو سره بېرته پاکېږي که نه؟

۳- څرنګه چې د حرام مال په اړه په حدیثونو کې سخت بیانونه راغلي دي، نو زما عمر (۱۷) کاله دی او زه بالغ یم، زموږ په کور کې مال او دولت حرام دی، په دې کې زما څه ګناه ده؟ دا خو زموږ د مشرانو غلطي ده، اوس ماته په دې کور کې اوسېدل په کار دي که کور پرېږدم او ولاړ شم؟

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: ۱- که درواغ وویل شي، یو چاته دوکه ورکړل شي او نفقه لاس ته راوړل شي، نو دا حرام دي.

۲- په ناخبرۍ کې غلط بیاني کولو سره لاسته راوړل شوې ګټه پاکه وي، خو په ډاګه دوکه ورکول او ګټه لاسته راوړل هېڅکله پاکه نه وي.

۳- که د حرامو څخه د ژغورنې هېڅ لاره نه وي، نو له الله (ج) څخه استغفار غواړه.

**پوښتنه: زه یو دکاندار یم، زموږ تر څنګ نور هم ډېر دوکانونه شته، د ځینو دوکاندارانو سره پاکستاني توکي دي، خو ډېر دکاندارن پاکستانی مال د جاپاني په نوم پلوري، مشتري په خوښۍ سره پیسې ورکوي او ځي. له موږ سره هم دغه ډول توکي دي، خو په ټوله میاشت کې یو شی هم نه شو خرڅولای، ځکه کله چې زموږ خواته مشتري راشي، نو د جاپاني توکو غوښتنه کوي، نو موږ سره خو پاکستاني توکي دي، موږ ورته پاکه وایو چې دا شیان پاکستاني دي، بیا یې مشتري یې نه اخلي، آیا موږ غلطه خبره وکړو یا خبره اخوا دېخوا کړو او خپل مال پرې خرڅ کړو؟**

ځواب: د درواغو په ویلو په چا باندې مال خرڅول حرام دي، په دې کې یو د درواغو ویلو ګناه ده، بله د مسلمانانو سره د دوکې ګناه.

نبي علیه السلام فرمایلي: ((کوم شخص چې موږ (مسلمانانو ته) دوکه راکوي، هغه له موږ څخه نه دی)).

ketabton.com - The Digital Library



بیا نبي علیه السلام فرمایي: ((ډېره د خیانت خبره ده چې ته خپل ورور (مسلمان) ته داسې خبره وکړې، چې هغه پر تا د رښتیاوو یقین کوي او تا ورته درواغ ویلي وي)).

که کوم خلک په درواغو او فرېب سوداګري کوي، نو خپله دنیا او اخرت دواړه تباه کوي، د داسې خلکو په روزۍ کې برکت نه وي، هغوی به د راحت او ارام له دولت څخه محروم وي، د هغوی دولت چې څه ډول د حرامې لارې څخه لاسته راځي همدا شان به د حرامې لارې څخه بېرته ځي. تاسو له هغې سره هېڅ وخت سیالي مه کوئ، خو مشتریانو ته پاکه وایئ چې همدا رخت دی چې نور خلک یې د جاپاني په نوم پلوري، ستاسو په رښتیا ویلو سره به ستاسې په مال کې برکت وي او د قیامت په ورځ به یې هم ډېر اجر او ثواب په لاس درشي. نبي علیه السلام فرمایلي: ((رښتیا ویونکی او امانتدار سوداګر به د قیامت په ورځ له، نبیانو، صدیقانو، شهیدانو او ولیانو سره وي.))

**پوښتنه: په پاکستاني مال باندې د خارجي هېواد ټاپه لګول او بیا یې د هغې هېواد په نوم پلورلو ګناه به د چا په غاړه وي؟**

ځواب: دا جعل سازي او دوکه ورکول دي، د بل هېواد ټاپه لګولو والا هم ګناهګار دی او هغه خلک څوک چې له دې څخه خبر وي چې ټاپه یې جعل ده او بیا یې هم د خارجي هېواد په نوم پلوري هغوی هم ګناهګار دي.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: ایا هغه پرچون پلورونکی هم ګرم دی څوک چې یې په وروستي مشتري (د توکو کاروونکي) باندې پلوري؟**

ځواب: تر کومه چې د راکړې ورکړې دا لړۍ دوام کوي او خلک په دې پوهېږي خو بیا یې هم د اصلي په نوم خرڅوي، ټول پلورونکي یې ګناهګار دي.

**پوښتنه: ایا د غیر مسلم خلکو څخه د خوراکي توکو یا نورو شیانو قرض اخیستل شرعاً جایز دي که نه؟**

ځواب: له غیر مسلم سره راکړه ورکړه جایزه ده، خو په دې شرط چې هغه غیرمسلم مرتد نه وي.له کافر سره لین دین جایز دی خو له مرتد سره نه.

ketabton.com - The Digital Library



# د راکړې ورکړې بېلابېل مسایل

**پوښتنه: که کوم شخص ته یو څه شی د څه مودې لپاره (موده ټاکلې نه وي) په مستعار ډول ورکړل شي او ډېره موده پس د هغې شي د بېرته نه ورکولو حالت کې د دواړو تر منځ د هغې شي میاشتنۍ بدله وټاکل شي چې لومړي شخص ته به هره میاشت ورکول کېږي، وروسته بیا هغه ټاکلې بدله هم ورنه کړي او مستعار ورکوونکی له خپل ورکړل شوي شي څخه د لاس مینځلو اعلان وکړي، دا اعلان په داسې حال کې وي چې نه خو خپل ورکړل شوی شی لاس ته راوړلی شي او نه یې د بدلې لاسته راوړلو تمه پاتې وي، نو په داسې حالت کې د لاس مینځلو تر اعلانه د میاشتنۍ بدلې پیسې په قرض کې حساب کړای شي یا یې له لاسته راوړلو څخه تمه پرې کړي؟ بله دا چې د مستعار په بدله کې ټاکل شوې پیسې له هغې لومړۍ ورځې څخه حساب کړای شي یا له همدې ورځې څخه په کومه چې دوی میاشتنۍ بدله وټاکله؟**

ځواب: ۱- که له چا څخه چې یو څه وغوښتل شي، د هغې بېرته ورکول واجب دي او څوک چې یې بېرته ورکولو کې سستي او وروسته والی کوي هغه خاین او غاصب دی، نو له همدې امله د دغې شي کارول حرام دي.

۲- که د دواړو لورو څخه یې په خوښۍ یو څه بدله وټاکل شي، نو دا بیه شوه او د ترسره شوي شرط سره سم یې پرې کول اړین دي.

۳- د مستعار په عوض کې چې څومره پیسې پرې شوې، هغه خو یې د مالک لپاره حلالې دي، خو که د لاس مینځلو اعلان موخه دا وي چې نورې پیسې یا قسطونه مې وبښل، نو بیا وبښل شول.

ketabton.com - The Digital Library



۴- څومره عوض چې د دواړو لورو تر منځ په خوښۍ وټاکل شو، همغه سم دی، نو له دې امله د پوښتنې دا برخه مبهمه ده چې ((میاشتنی عوض له دې وخت څخه حساب کړو؟))

**پوښتنه: د (زید) او (بکر) تر منځ داسې هوکړه وشوه چې (زید) به د (بکر) د زوی لپاره په دوبۍ کې د مزدورۍ لپاره یوه ویزه اخلي او بکر ته به یې ورکوي، نو یوه ټوټه زمکه یې د ویزې د بیې په بدل کې (زید) ته ورکړه، ددې زمکې مالومه اندازه غله (زید) ته ورکوي، (زید) د (بکر) زوی ته ویزه هم ورکړه او د مزدورۍ غم یې هم ورله وخوړ، خو تر اوسه په زمکه کې د (بکر) دهقان کار کوي، په کال کې یو ځل مالومه اندازه غله (زید) ته ورکوي، په هوکړه لیک کې لیکل شوي چې دوه کاله پس به (بکر) د ویزې بیه پرې کړي او له (زید) څخه به خلاص شي، اوس (زید) ته د غلې یا وربشو اخیستل جایز دي که نه؟ د سود څرک خو نه شته؟ که وي نو ولې؟**

**۲- په پورته ذکر شوي حالت کې (زید) له خپل جیب څخه د ویزې بیه (شپږ زره) درهم پرې کړه، (بکر) ددې بیې پرې کولو لپاره د دوه کلونو هوکړه وکړه، دا څه ډول جایز کېدلای شي؟**

ځواب: لومړی حالت د ګروي دی، یعنې د ویزې په بدل کې یې د (زید) سره زمکه د ګروي په ډول ایښې ده، د قرض په بدل کې د ګروي زمکې ګټه اخستل سود دی، نو د زید لپاره ددې زمکې ګټه حلاله نه ده.

۲- د ویزې څومره بیه چې (زید) پرې کړې، همدومره بیه دې ټاکل شوې نېټې پورې پرې کړي، که (زید) د بیې په بدل کې غله اخیستل

ketabton.com - The Digital Library



غواړي، نو اخیستلای یې شي او د غلې اندازه چې د دواړو لوریو تر منځ هر څومره وټاکل شي، سمه ده.

**پوښتنه: مزدورانو ته بونس اخستل جایز دي؟**

ځواب: که مالک یې په خوښه ورکړي، نو جایز دي.

**پوښتنه: یو پلار خپلو بچو ته له ناجایزې لارې پیسې ګټي، تر هغې چې بچي یې بالغ او هوښیار شي او دا ورته په ډاګه شي چې زموږ پلار موږ ته حرامې پیسې ګټلې دي، نو ایا بچي باید له خپل مور او پلار څخه جلا شي؟ ځکه چې لا تر اوسه دا توان نه لري چې د ځان لپاره پیسې پیدا کړي او وه یې خوري. ایا د پلار ګناه کې بچي هم شریک دي، که نه یوازې پلار ګناهګار دی؟**

ځواب: د بالغ کېدو او عقلمند کېدو وروسته خو بچي هم ګناهګار دي، دوی باید له داسې مال خوړلو او کارولو څخه ډډه وکړي، که دا ناشوني وي، نو بیا دې جلا شي، خو د مور و پلار په خدمت او احترام کې به هېڅ کمی نه کوي او که کومې اړتیاوې ولري، هغه باید ور پوره کړي.

**پوښتنه: زه یو دکاندار یم، خلک د ماتو پیسو اخیستلو لپاره راځي، کومې چې زموږ د شخصي اړتیاوو لپاره وي، نو موږ ورته وایو: ((نشته دی))، ایا دا په درواغو کې حسابېږي؟ که حسابېږي، نو څه شی ویل په کار دي.؟**

ځواب: باید درواغ ونه ویل شي، په کومه مناسبه خبره خپل عذر وړاندې کړئ.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: په ځینو لویو لارو د سفر پر مهال موټر چلوونکي خپلې موټرې د هوټلونو مخې ته ودروي او ټول مسافر هلته خوراک او څښاک کوي، د هوټل والا له عام نرخ څخه لږې ډېرې پیسې اخلي، موټر چلوونکی هم دلته ډوډۍ خوري، خو له هغې څخه پیسې نه اخلي، نو ایا دا خوراک د موټر چلوونکي لپاره حلال دي؟**

ځواب:که د هوټل والا موټر چلوونکي ته د ملګرتیا یا مېلمستیا په خاطر خوراک ورکوي، نو جایز دی، که په دې خاطر یې ورکوی چې هغه موټر هلته ودروي او دوی له مسافرو څخه د خوراک ډېره بیه ترلاسه کړي، نو جایز نه دی.

**پوښتنه: که څوک د قاچاق کولو لپاره رخت اخلي، نو دوکاندار باید دغه رخت پرې وپلوري که نه؟ که یې پرې وپلوره، نو لاسته راغلې پېسې یې حلالې دي که حرامې؟**

ځواب: قاچاق کول قانوناً منع دي، که دوکاندار ته دا مالومات وي چې دا رخت د قاچاق لپاره اخلي، نو باید پرې ویې نه پلوري، که بیا هم پرې وه یې پلوره، ګټه یې شرعاً حلاله ده.

**پوښتنه: د فابریکې کارکوونکو ته هره نیمه میاشت یا یوه میاشت وروسته د فابریکې له حاصل څخه نغدې پیسې د انعام په توګه ورکول کېږي، خو ځینو کسانو کار پرې ایښی او ډېر وخت د خپل انعام اخستلو لپاره نه دي راغلي او نه یې کومه پته شته، هغه نغدې پیسې یې د امانت په توګه پرتې دي، له دې سره باید څه وشي؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: انعام هغه څه وي چې کله په نه ترلاسه کولو يې انسان شکايت نه کوي او نه هغه د واجب حق حيثيت لري، که ددې حيثيت همدا ډول وي، نو کومو کسانو ته چې دغه پيسې نه وي ورکړل شوې، د هغوی برخه پيسې د کارخانې دي، هغوی چې پرې څه وغواړي کولای شي. که هسې يې ورته نوم انعام ايښی وي او نور د واجب حق حيثيت لري، بيا هم هغه کسان چې فابريکه يې پرېښې وي، ددې حقدار نه دي، ځکه چې ددې لپاره نېټه ټاکل دا مانا لري چې څوک د يادې نېټې پورې کار وکړي، نو هغوی به د انعام څښتنان شي، نو که کومو کسانو له ټاکلې نېټې څخه مخکې فابريکه پرېښوده، د هغوی استحقاق ختم شو، خو که کارکوونکي فابريکه په خپله خوښه نه وي پرېښې او د کارخانې څښتن هغه ويستلی وي، نو بيا د دې انعام حق اخيستلو حق لري، د فابريکې څښتن بايد مخکې له دې چې هغه له دندې گوښه کړي، د هغې برخه (انعام) هم وکړي.

**پوښتنه: که کوم شخص د گناه په نيت مال رانيول غواړي، د بېلگې په ډول: ((د قاچاق لپاره رخت يا نور.. يا چاته د زيان اړولو لپاره وسله)) نو دوکاندار ته چې په دې پلورنه کې کومه گټه رسېږي هغه ورته جايز ده که نه؟**

ځواب: داسې شخص ته وسله ورکول چې دا احتمال وي چې هغه به څوک ناحق قتل کړي، نو دا جايز نه دي، پلورونکی به هم گناهگار وي، خو راکړه ورکړه يې صحيح ده.

**پوښتنه: که يو مسلمان په خپل هېواد کې (دوه، درې سوه زره) افغانۍ، زمکه او کور ولري او بيا هم د نورو پيسو لاسته راوړلو په لالچ کې خپله کورنۍ، مېرمن او بچي پرېږدي او بل هېواد ته د مزدورۍ لپاره ځي، نو**

ketabton.com - The Digital Library



**شريعت کې ددې لپاره څه حکم دی؟ دا هم بايد وايم چې هغه شخص له يو کال مزدورۍ کولو وروسته د يوې نيمې مياشت لپاره کور ته راځي.**

ځواب: په دې پوښتنه کې دوه ټکي مهم دي:

لومړی: که د هغه شخص د کور چلولو لپاره يو څه اندازه معاش وي، نو په دې بايد بسيا وکړي او که د نورو پيسو لاسته راوړلو لپاره هم هڅه وکړي. ددې ځواب دادی؛ که د يوې شرعي لارې څخه د لا ډېرو پيسو لاسته راوړلو هڅه کوي، نو جايز دي، خو که په هغې معاش او پيسو بسيا وکړي او نور وخت د اخرت جوړولو لپاره مصرف کړي ډېر به ښه وي.

دويم: دا چې خپل اولاد، مېرمن او کورنۍ پرېږدي او بهر هېواد ته ځي، تګ يې درست دی که نه؟ ددې ځواب دادی؛ دا د حقوق العباد مسئله ده، د مور، پلار، بچو او مېرمنې حقوق پر ځای کول د نوموړي دنده ده، که هغوی ورته خپل حق وبښي او د تللو اجازه ورکړي، نو بيا درسته ده، کنه نه ده، اجازه او رضا هم بايد يوازې په خوله نه وي، بلکې رښتينی اجازت به ورکوي.

**پوښتنه: په ځينو ښوونځيو کې سرښوونکي د هر کال په پيل کې پر خپلو زده کوونکو داسې درسي شيان جبراً پلوري چې نه ورته د هغوی اړتيا وي او نه يې په درسي نصاب کې وي، بيا داسې دليل ورکوي چې دا خو سوداګري ده، ايا دا درست کار دی؟**

ځواب: که کوم زده کوونکی يې په خپله خوښه اخلي، نو بيا صحيح ده، کنه جبري پلورنه يې ناجايزه ده.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: ځینې دوکانداران توکي په داسې پلاستیکونو کې اچوي چې په هغې د الله (ج) نوم یا نور دیني شیان لیکل شوي وي، آیا په داسې کار کولو د دوی روزي حلاله وي؟**

ځواب: په دې خو یې روزي نه حرامېږي، خو داسې کار کول گناه ده.

**پوښتنه: زموږ ښار کې یو شخص خپله زمکه مدرسې ته وقف کړې وه، بیا هغه شخص په هندوستان کې په حق ورسېد، یاده مدرسه تر اوسه دوام لري، اوس د هغې په اولادونو کې اتم پېښت یو شخص دی، هغه وایي؛ زموږ نیکه دا زمکه مدرسې ته ورکړې وه، نو دا مدرسه اوس زموږ ده، ددې دننه د هېڅا حق نه شته، نوموړی شخص په زور د دې مدرسې عاید خوري، بهانه یې داده چې زه په مدرسه کې درس ورکوم، خو په ټوله اونۍ کې یوه یا دوه ورځې مدرسه کې حاضر وي، هم د سیمې خلکو سره شخړې کوي او هم د زده کوونکو ژوند تباه کوي، آیا دا شخص په حقه دی؟ یا که موږ ټول د سیمې خلک جمع شو او هغه له مدرسې څخه وباسو، کوم شرعي ممانعت خو به نه وي؟**

ځواب: ددې شخص پر مدرسې هېڅ حق نه شته، د ښار خلک باید دی له مدرسې څخه وباسي او د مدرسې مدیریت یو پوه شخص ته وسپاري. دې شخص ته د هغې زمکې حاصل چې مدرسې ته بښل شوې ده، خوړل جایز نه دي.

**پوښتنه: زما یو ملگری دی چې د یو څه کورني مشکلاتو له امله یې ښځې ته یو طلاق ورکړ، بیا یې سخر پرې فشار راوړ چې لور ته یې درې طلاقه ورکړي، کلهچې یې چې طلاقه کړه، نو د مېرمن پلار او ورونو یې**

ketabton.com - The Digital Library



**راونیوه او ویې واهه، تر څو هغه بېهوشه شو، بیا یې وډار کړ چې کور دې د بچو په نوم کړه، کله چې یې پوره وډار کړ او دی هم پوره په هوش کې نه و، نو قضا ته یې یوړ او هلته یې پرې د کور پر کاغذونو لاسلیک وکړ چې دا زما د بچو په نوم شو، ایا داسې کول شرعاً جایز دي؟ یا زما ملګری د خپل کور بېرته اخستلو حق لري؟**

ځواب: که دغې شخص حواس بایللي و، نو بیع صحیح نه شوه او چې دا ډول وشول، نو دا بیع نه بلکې غصب دی.

**پوښتنه: ما څو کاله وړاندې د خپل واده لپاره ډېرې جامې جوړې کړې وې، له دې څخه څو جوړه جامې تر اوسه همغه شان په پاکټونو کې بندې دي، که زه دا جامې بازار ته وباسم او د بازار په نرخ یې وپلورم، نو ایا دا ګټه زما لپاره جایز ده؟ ځکه د داسې جامو بیه ورځ په ورځ ډېرېږي، یا که یې داسې ځای یا هېواد ته واستوم چې هلته په جامو کې د لاس کار ډېر قیمته پلورل کېږي، هلته دا جامې ماته ډېره ګټه وکړي، په کومه بیه چې ما جوړې کړې وې، له هغې څخه په لوړه بیه پلورل کېږي، نو ایا داسې کول جایز دي؟ ایا د اسلام د مخې زه له دې ګټې څخه زکات ورکولی شم؟**

ځواب: دا ګټه جایز ده، په دې کې هېڅ ستونزه نه شته.

**پوښتنه: زما خاوند یو ملازم دی، مور ته له دولت څخه هره میاشت طبي شیان او درمل راکول کېږي، مور ته چې کوم درمل راکول کېږي، هغه په خپلو پاکټونو کې بند وي، ځینې وکارول شي، خو ځینې پاتې کېږي، چې له مور سره هره میاشت ډېر درمل جمع کېږي، له دې سره مور څه**

ketabton.com - The Digital Library



**وکړو؟ که موږ دا درمل یو درملتون ته ورکړو او په بدل کې یې د غاښونو برس، کریم او نور د اړتیا وړ شیان واخلو، نو ایا دا جایز دي؟**

ځواب: له دولت څخه چې کوم درمل درکول کېږي هغه کارولی شئ، خو دا بېرته پلورل یا په بل څه یې بدلول شرعاً جایز نه دي، کوم چې اضافه کېږي، هغه بېرته دولت ته ورکړئ، که بېرته ورکول یې ناشوني وي، نو بیا یې هغه بې وسه خلکو ته ورکړئ چې اړتیا ورته لري، یا یې کوم خیریه روغتون ته واستوئ.

**پوښتنه: کله چې د ټوکر جوړولو فابریکه جوړېږي نو له حکومت څخه به جواز اخلې، حکومت د فابریکې ماشینونو ته په کتلو سره د وارداتو جواز ورکوي، دا لایسنس د هغې مالوچو وي چې ټوکر ترې جوړېږي، خو د وړو فابریکو څښتنانو سره دومره پانګه نه وي چې واردات پرې وکړي، نو دوی بیا خپل جواز په لویو فابریکو پلوري، هغوی مالوچ واردوي او بیا یې پر دوی پلوري، نو ایا د وارداتو جواز پلورلو باندې چې کومه ګټه موږ لاسته راوړو دا حلاله ده که حرامه؟**

ځواب: د وارداتو لایسنس مال نه دی، بلکه یو حق دی، نو له دې امله یې پلورل شکمن دي، ځکه یې له پلورلو څخه ډډه کول غوره دي.

**پوښتنه: په یوه رادیو کې د (روښني) په نوم یوه دیني خپرونه خپرېږي، چې دیني علماء یې پر مخ بیایي، خو د خپرونې له پای ته رسېدو څخه وروسته ویل کېږي، دا خپرونه تاسو ته د فلاني بانک په مرسته وړاندې شوه. اوس تاسو د قران او حدیث په رڼا کې ووایئ چې د سود کاروبار**

ketabton.com - The Digital Library



**کوونکو په مرسته د داسې پروګرامونو نشرول جایز دي؟ ځکه سود خو حرام دی.**

ځواب: په نېک کار کې د حرام مال مصرفول سم نه دي، بلکه د ګناه تکرار دی.

**پوښتنه: ما سره خلک پیسې د امانت په ډول جمع کوي، په راکړه ورکړه کې کمی زیاتی هم وي، منډه تړه هم وي، که زه د یو څه پیسو په بدل کې دوه افغانۍ واخلم، نو دا به جایز وي که ناجایز؟**

ځواب: خلک تا سره د امانت په ډول پیسې جمع کوي، نو څومره پیسې چې جمع کوي هغومره باید ورکړې، د کمي زیاتي او په ورکړه کې د شخړې مخنیوي لپاره حساب له ځان سره ساتل ډېر اړین دي،  که له مخکې څخه وویل شي چې د دومره پیسو د ساتنې په بدل کې به دومره پیسې د مزد په ډول اخلم، نو دا ډول مزد اخستل بیا سم دي، خو که په داسې حالت کې پیسې له منځه ولاړې شي، نو جبرانېدل یې حتمي دي. د امانت په ډول د پیسو کېښودلو په بدل کې نورې پیسې اخستل جایز نه دي. مخکې چې دې له چا څخه دا ډول پیسې اخستې وي، نو بېرته یې ورته ورکړل.

**پوښتنه: زه په یو هوټل کې کار کوم، هلته ماته له معاش پرته هره ورځ بخششي پیسې راکول کېږي، چې مشتري یې په خپله خوښه راکوي. ایا دا پیسې زموږ لپاره حلالې دي؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: که خلک یې په خپله خوښه درکوي نو سمه ده، خو دا باید حق ونه ګڼل شي، غوښتنه یې ونه شي او چې څوک یې درنه کړي، هغې ته سپک نظر کول جایز نه دي.

**پوښتنه: د یوې فابریکې رسمي وخت له سهار (اته) بجو څخه تر مازیګر (څلور) بجو پورې وي، خو زموږ د فابریکې د څښتنانو له لوري دا پرېکړه وشوه چې ورځنی کار به له (اته) بجو څخه تر مازیګر (۵:۱۰) پورې وي او د دې په بدل کې به د جمعې تر څنګ هره دویمه پنجشنبه رخصت وي، یعنې یوه پنجشنبه به وي یوه به نه وي، یعنې په میاشت کې ټولې شپږ رخصتۍ، ددې تر څنګ دا پرېکړه هم وشوه، چې د هرې میاشتې اوله او درېیمه پنجشنبه به رخصت وي، چې څوک دا ونه وایي چې کومه پنجشنبه رخصت کوو او کومه نه. اوس خبره دا ده چې هغه وخت د چا پام نه و چې ځینو میاشتو کې پنځه پنجشنبې راځي، اصل کې خو پرېکړه داسې وه چې یوه پنجشنبه به رخصت وي بله به نه وي، خو د فابریکې مالکان یې اوس هېروي، دا کال له یوې میاشتې څخه ډېرو میاشتو کې پنځه پنجشنبې راځي، د مثال په ډول: په (مۍ) میاشت کې پنځه پنجشنبې دي. نو په دې اړه راته د عدل او انصاف پرېکړه وکړئ، تر څو نه د فابریکې څښتنان ګناهګار شي او نه کاریګر له حق څخه واوړي. بله دا که د پنجشنبې پر ورځ دولتي رخصت وي، نو ایا ددې په بدل کې ورته بله ورځ رخصتي ورکول په کار دي که نه؟ ځکه هغه سرکاري رخصتي خو دوی ته په هر حالت کې ورکول کېده او د پنجشنبې رخصتي خو دوی ته د ډېر کار کولو په بدل کې ورکول کېږي، دا رخصتي ورته د هغې (څلوېښت) دقیقو په بدل کې ورکول په کار دي، په دې اړه یوه عادلانه پرېکړه وکړئ.**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: که کومه میاشت پنځه رخصتۍ راشي، نو کارکوونکو ته دې نیمه ورځ رخصتي ورکړل شي، که نیمه ورځ رخصتي د فابریکې په تاوان وي، نو بیا دې دا پرېکړه وکړي چې، یوه بنجشنبه به رخصت وي، بله به نه وي، لومړۍ باید جمتري ته په کتلو پرېکړه شوې وای، تر څو شخړې او اختلافات نه وای، دویمه مسله چې د دولتي رخصتۍ په اړه وه چې د دواړو طرفونو تر منځ یې په اړه هېڅ تړون نه و شوی، په دې مسله کې دې عامه پرېکړه وه شي، یعنې نورو فابریکو ته دې وکتل شي، که په عام ډول نورې فابریکې داسې کوي چې په داسې حالت کې بله ورځ رخصتي هم ورکوي، نو همداسې دې وکړل شي، که نه یې ورکوي نو دوی دې هم نه ورکوي. که کوم ټاکلی قانون نه وي، نو دا مسئله دې د فابریکې څښتنانو او کاریګرو تر منځ حل شي، راټول دې شي او خپلمنځي پرېکړه دې وکړي. تاسو چې د رخصتۍ په اړه کوم دلیل لیکلی، هغه پر خپل ځای سم دی

**پوښتنه: ځینې اشخاص لکه؛ (ښوونکي، چوکیداران، صفاکاران او داسې نور) په رسمي وخت کې چې وقفه نه وي، ځینې نېک کارونه لکه؛ د قران کریم تلاوت او داسې نور کارونه کوي، بل هېڅ رسمي کار نه کوي، چې له امله یې ادارې ته تاوان یا ستونزه پېښېږي، ایا د دوی دا عمل ثواب لري؟**

ځواب: که دولتي کارکوونکی وي یا نادولتي، د دوی کاري وخت د دوی نه، بلکې د هغې ادارې دی چې دوی ترې تنخواه اخلي، د دغې وخت په بدل کې تنخوا اخلي، دا وخت یې خپل نه بلکې د ادارې او ملت دی، که خپل رسمي وخت په هغه کار کې مصرفوي کوم چې ده ته سپارل شوی دی، نو امانت پر ځای کوي او تنخوا ورته حلاله ګرځي، که په رسمي وخت کې کوم

ketabton.com - The Digital Library



بل کار کوي، یا کار نه کوي او هسې ناست وي، نو په امانت کې خیانت کوي او تنخوا ورته حلاله نه ده.

خو که دفتر یې کار یې پای ته رسولی او بېکاره ناست وي، نو دې وخت کې تلاوت کول جایز دي، دغه شان په بل نېک کار کې دا وخت مصرفول هم جایز دي.

زمونږ کاریگره طبقه په دې مسئله کې ډېره بې پروایي کوي، د کار پر وخت په صداقت او امانت سره د کار کولو فکر له خلکو تللی، دا ډول خلک د ملت نوکران او ملازمان دي. له دولتي خزانې څخه چې د ملت له ګټې څخه جوړه شوې وي، تنخوا اخلي. خو فساد دومره حد ته رسېدلی چې عام وګړي ادارو او ریاستونو ته د کار خلاصولو لپاره ځي، خو بېرته خالي لاس کور ته راځي، خو که رشوت یا واسطه وي، نو کار یې په عاجله توګه خلاصوي، ته وا دا خلک د ملت نه بلکې د رشوت او سفارش ملازمان دي. که انصاف ته وګورو، نو داسې معاش به د یو چا لپاره څنګه حلال وګرځي؟ که دوی چېرې دا فکر او احساس ولري چې رب ته به ځواب ورکوم، د قیامت پر ورځ به الله (ج) ته د خپل هر عمل حساب ورکوم، نو په اداري او رسمي کارونو کې به په ډېر صداقت او ربښتینولۍ کار وکړي او هېڅ عام وګړی به له دوی څخه په اداري کارونو کې ناخوښ ونه اوسي.

ketabton.com - The Digital Library



## له واک څخه د مخه مال پلورل (پوښتنې او ځوابونه)

**پوښتنه: ځینې کمپنیانې مال جوړ کړي او په یو څه اندازه خلکو یې وپلوري، مشتریان بیا دغه مال له دې خلکو څخه اخلي، ځینې وختونه دې خلکو سره مال خلاص شي، خو د خپلې ګټې د ډېرولو په خاطر بیا هم له خلکو مخکې پیسې اخلي او بیا وروسته ووسته ورته له هغې کمپنۍ څخه مال پوره کوي. آیا دا شرعاً جایز دي؟ که نه وي، نو شرعي بڼه به یې څه وي؟**

ځواب: کوم مال چې شتون ونه لري، د هغې پلورل هم ناجایز دي، داسې بیع ته ((بیع سلم)) ویل کېږي، چې بیه اوس پرې کېږي او مال یوه میاشت یا څه موده پس ترلاسه کوي، چې په څو شرطونو سره جایز ده:

١- جنس به معلوم وي. (لکه؛ د مالوچو سودا وشوه).
٢- نوع به معلومه وي. (لکه: اصلي، دیسي او داسې نور)
٣- صفت به یې معلوم وي. (لکه: اول نمبر، دویم نمبر یا بېکاره)
۴- اندازه به یې معلومه وي. (لکه: دومره ټنه)
۵- د ترلاسه کولو نېټه به یې مالومه وي، چې له یوې میاشتې څخه به کمه نه وي.
٦- د پرې شوو پیسو اندازه به معلومه وي.
٧- کوم شیان چې ترانسپورت ته اړتیا لري، په دې کې دا پرېکړه هم باید وه شي چې مال به فلاني ځای کې ترلاسه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



۸- د دواړو لوریو له جلا کېدو څخه مخکې باید په یو ځای ټولې پیسې پرې شي.
که له دې اته شرطونو څخه یو یې هم ونه پالل شو، نو (بیع سلم) فاسدېږي.

**پوښتنه: احمد په بهر هېواد کې دی، محمود ترې یو څه مال واخیست، (احمد) ورته مال د بېړۍ له لارې ولېږه، بېړۍ لا په سمندر کې وه، (محمود) د ټول مال یو څه برخه په (حمید) وپلورله او د پیسو یو څه برخه یې (احمد) ته له مخکې ورکړه، خو (حمید) به د خپل مال پیسې هغه مهال (محمود) ته ورکوي چې مال ورته وسپاري.**

**۱- کله چې مال د (محمود) هېواد ته ورسېد، نو د (حمید) سره یې چې د مال کومه بیه کړې وه، د هغې څخه یې اصلي بیه ډېره وه، نو (حمید) باید کومه بیه پرې کړي؟ د مال اصلي بیه، که هغه بیه چې له (محمود) سره یې پرې هوکړه کړې وه؟**

**۲- کله چې مال د (محمود) هېواد ته راورسېد، نو په بازار کې بیه له هغې بیې ټیټه وه، کومه بیه چې محمود له حمید سره کړې وه، نو په داسې حالت کې باید څه وشي؟**

**۳- مال ذخیره کول جایز دي که نه؟ که نه وي جایز نو یوازې د قحط په وخت کې نه دي که په عامو حالتونو کې هم نه دي؟**

ځواب:

۱- د سوداګرۍ اصول دي چې کوم مال شتون ونه لري یا په واک کې نه وي د هغې پلورل سم نه دي، نو کوم مال چې تر اوسه د (محمود)

ketabton.com - The Digital Library



هېواد ته نه وي رسېدلی هغه نه شي پلورلی، (محمود) او له هغه وروسته چې هر څومره خلک داسې مال چې لا هم شتون نه لري، اخلي، دا راکړه ورکړه ناجایز ده، خو (محمود) له نورو خلکو سره د بیعې وعده کولای شي، چې مال کله راورسېږي نو د هغه مهال په بیه به یې پر دوی وپلوري.

۲- څرنګه چې لومړۍ راکړه ورکړه د فسخ کېدو وړ ده، نو دغه شان دې هغه وخت بیه وټاکي کله چې مال ورسېږي، که په غلطۍ یې مخکینۍ راکړه ورکړه همداسې وساتله، نو ګناه به وي، خو بیه به همغه وي، کومه چې یې اوله ټاکلې وه.

۳- مال ذخیره کول په اسلام کې ناجایز دي، دا انساني رویه نه ده، په حدیث کې دي؛ ((کوم خلک چې ددې لپاره مال ساتي چې بیه یې لوړه شي او بیا یې وپلوري، نو هغوی ګناه کوي، هغه ملعون دی، د الله (ج) پر وړاندې هغه شخص بد دی، که ټول مال خیرات کړي، هم نه جبرانېږي)) حدیث شریف د دواړو حالتونو (قحط او نا قحط) لپاره دی، خو د قحط په وخت کې مال ساتل نور هم بدتر دی، ځکه د مال ساتلو له امله غریبانانو ته ډېر تکلیف رسېږي.

**پوښتنه: یو شخص مال له بهر هېواد څخه واردوي، په دې مال رسېدلو کې وخت هم مصرفېږي، دا په داسې حال کې چې، له بهر هېواده چې کوم مال رالېږل کېږي، د هغه په اړه پیرودونکي ته پوره مالومات ورکول کېږي، چې؛ فلانۍ میاشت په فلانۍ بېړۍ کې ستا مال لېږدول کېږي. (د بېلابېلو لاملونو له امله مال مخکې وروسته کېدلای هم شي). پیرودونکي د بېړۍ له نوم څخه مال مخکې له ترلاسه کولو څخه پلوري، چې فلانی مال په فلانۍ بېړۍ کې راځي، د هغې راکړه ورکړه کېږي، نو**

ketabton.com - The Digital Library



**شرعاً دا راکړه ورکړه سمه ده، که نه؟ او دا ډول اخستل خرڅول جايز دي که نه؟**

ځواب: دا مسئله د بانک د حيثيت پر تعينولو ولاړه ده، که بانک د اخستونکي د وکيل په حيث وي او د بانک نماينده په بهر هېواد کې مال ترلاسه کړي او راوېې لېږي، نو لکه څنګه چې د وکيل واک لکه د موکل واک دی، نو له دې امله د مال پلورل مخکې له رسېدلو څخه جايز دي او که بانک د اخستونکي وکيل ونه اوسي، نو هغه ته د مال ترلاسه کولو څخه مخکې د هغه مال پلورل جايز نه دي.

**پوښتنه: مال د اخستلو او پلورلو پر وخت شتون نه لري، بلکه د نوم له مخې يې اخستل او پلور کېږي، ايا دا جايز دي؟ يا د مال شتون اړين دی؟ پيرودونکی مال اخلي، خو د لاسته راوړلو څخه د مخه يې بېرته پلوري، شرعاً دا جواز لري که نه؟**

ځواب: له مال ليدلو پرته د مال اخستل جايز دي، خو وروسته که اخيستل شوی مال هغه ډول نه و، نو پيرودونکی يې د بېرته ورکولو اختيار لري، خو کوم شی چې په واک کې نه وي، د هغې پلورل جايز نه دي.

ketabton.com - The Digital Library



# مشارکت، مضاربت او مرابحه

په اوس وخت کې په اسلامي او غیر اسلامي بانکونو او نورو سوداګریزو ادارو کې (مضاربه، مرابحه او مشارکه) عام شوي دي، خو هغه ډول نه ترسره کېږي څه ډول چې په حدیثونو کې راغلي دي، چې له امله یې ګڼ شمېر خلک یا خو په ناجایز کاروبار او یا سود اخته کېږي.

موږ یې دلته په یو بل پسې د بحث لاندې نیسو:

## مشارکت

هغه کاروبار ته ویل کېږي چې په هغې کې دوه یا د دوو څخه ډېر کسان یو ځای کېږي، ګټه او تاوان او د کاروبار په ټولو چارو کې سره شریک وي. ګټه او تاوان د یو ځانګړي نسبت له مخې وېشي.

**د مشارکت ډولونه:**

مشارکت په دوه ډوله دی:

۱- د املاک شراکت

۲ – د عقود شراکت

ketabton.com - The Digital Library



**د املاک شراکت:** یعنې د ملکیت شراکت، د بېلګې په ډول: کـه څو تنـه د میراث په ډول زمکه یا نغدې پیسې ترلاسه کړي یا په ګډه څه شی واخلي، نـو په دې صورت کې دوی ټول له یو بـل سره شریـک دي او دې تـه (د املاکـو شراکت) وایي.

**د عقود شراکت:** عقود د عقد جمع ده او د تړون په مانـا ده، پـه دې شراکـت کې شریکان د یوې هـوکړې لـه مخـې لـه یـو بـل سره تـړل کېـږي او د هغـې هوکړې ټولو شرایطو پابند وي، نو ځکه ورته د عقود شراکت وایي.

## مضاربت

په اسلامي بانکونو کې ډېرې کاروبـاري هـوکړې د مضـاربې پـر بنسـټ تـرسره کېږي، مضاربې ته قراض او معامله هم ویـلای شـو، مضـاربه د کاروبـار هغـه بڼه ده، په کوم کې چې یو شخص چا ته چې رب المال (د مال څښتن) ویـل کېږي، پانګه وي او دویم شخص چاته چې مضـارب یـا عامـل ویـل کېـږي د هغې په پانګه باندې تجارت کوي، له دې سـوداګرۍ چـې کومـه ګټـه لاسـته راځـي، پـه هغـې کـې دواړه د ټاکـل شـوي تناسـب لـه مخـې شریـک وي. همدارنګه (امام نوی رح) وایي:

((القراض والمضاربة ان یدفع الیه ما لا لیتجر فیه والربح مشترک)) [۱]

---

[۱]: المنهاج: كتاب القراض، ج-۱، مخ-۲۲۹

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: د قراض او مضاربې دا مانا ده چې يو شخص بل ته مال ورکړي چې هغه پرې سوداګري وکړي او ګټه دواړه په خپل منځ کې وويشې))

په نيل المآرب کې ليکل شوي:

((وهى شرعا ان يدفع انسان من ماله الى انسان اخرشيئاً او يكون له تحت يده على سبيل الوديعة او الغصب مال ويإذن له ليتجر فيه ويكون الربح بينهما بحسب ما يتفقان عليه))[٢]

((د مضاربې شرعي مانا دا ده چې يو شخص بل ته د خپل مال يو څه حصه ورکړي، يا له مخکې څخه د هغې مال له ده سره د امانت په ډول پروت وي، يا ده غصب کړی وي او ده ته اجازت ورکړي چې په هغې سوداګري وکړي او ګټه د دواړو تر منځ د هغې تناسب له مخې وويشي، په کوم چې دوی متفق وي)).

په (الملخص الفقهى) کې د مضاربې مفهوم داسې بيان شوی دی:

((دفع مال معلوم لمن يتجربه ببعض ربحه)) (ج- ٢، مخ٧١)

ژباړه: د ګټې د يو څه اندازې په بدل کې مال هغه شخص ته ورکول چې ځوک پرې سوداګري وکړي.

په مضاربت کې که په سوداګرۍ کې تاوان وه شي، نو ټول به د رب المال (د مال څښتن) په غاړه وي، په تاوان کې به د مضارب برخه نه وي، هغه يوازې

[٢]: نيل المآرب شرح دليل الطالب، مخ -١٩۴

ketabton.com - The Digital Library



د خپل زیار ګټه له لاسه ورکوي، څرنګه چې له (حضرت علـی رض الله عنـه) څخه نقل شوي:

((الوضیعة علی المال والربح علی ما اصطلحوا علیه))[۳]

ژباړه: تاوان به د رب المال وي او ګټه به د هغه تناسب له مخې ویشل کیـږي، چې دوی پرې توافق کړی وي.

**د مضاربت ډولونه:**

مضاربت په دوه ډوله دی:

۱- مقید

۲- مطلق

**مقید مضاربت:**

مقید مضاربت هغه مضاربت ته ویل کیږي، چې په هغه کې د پـانګې څښـتن د کار ځای، د کار موده یا یو ځانګړی کار په ګوته کړي، چې زما په پانګـه بـه یوازې په پلاني ځای کې یا پلانـی کـار تـرسره کـوئ، یـا ووایـي چـې پـه دې پانګه د یو کال لپـاره کـار تـرسره کـولای شـئ، یـا د یـو کـال لپـاره پیسـې پـه مضاربت درکوم، یا دا پیسې د ټوکر کاروبار لپاره درکوم.

**مطلق مضاربت:**

په دې مضاربت کې هیڅ کوم پورته ذکر شوي شرطونـه نـه وي، بلکـه داسـې مضاربت ترسره کیږي چې مضارب په خپله خوښه چې هر کـار يـې خـوښ وي

[۳]: مصنف- عبدالرزاق، جلد-۸، مخ- ۲۴۸.

ketabton.com - The Digital Library



ترسره کوي يې، هېڅ کوم قيد او شرط پرې د رب المال له خوا نه اېښودل کېږي.

**د مضاربت ځانګړتياوې:**

- يو شخص د پانګونې له مخې په کاروبار کې شريکېږي.
- دويم شخص په کاروبار کې خپل علم، مهارت او تجربه کاروي او په کاروبار کې شريکېږي.
- د ګټې وېشلو په اړه چې دوی څه ډول پرېکړه کړې وي هغه ډول به وېشل کېږي.
- که تاوان د مضارب د قصدي غلطۍ له امله رامنځته شي، مضارب به تاوان ورکوي، کنه په نورو حالتونو کې ټول تاوان د رب المال دی، مضارب د کار څخه لاس مينځي.

**د مضاربت شرطونه:**

په مضاربت کې چې د کومو شرطونو پالل اړين دي، له هغه څخه بنسټيز شرط دادی چې؛ په ګټه کې به د دواړو لوريو د برخې تناسب له مخکې څخه ټاکل شوی وي، لکه؛ ګټه به د رب المال او مضارب تر منځ برابره وېشل کېږي، يا به رب المال (٦٠) سلنه اخلي او مضارب به (٤٠) سلنه. که دا نامعلومه وي، نو مضاربه به فاسده وي. لکه څرنګه چې په (بدايع الصنايع، جلد ١٣،مخ ١٧١) کې ليکل شوي دي. د امام مالک په نزد د ګټې وېشلو پر وخت د رب المال شتون اړين دی، همدارنګه په (مؤطا) کې ليکل شوي:

ketabton.com - The Digital Library



((امام مالک وایي: کله چې د مال څښتن شتون ونه لري، نو مضارب هېڅ حق نه لري چې له ترلاسه شوې ګټې څخه خپله برخه واخلي.

(کتاب القراض: باب المحاسبة فی القراض)

همدارنګه که یو شخص بل ته د مضاربې لپاره مال ورکړ، هغه د سوداګرۍ له لارې ګټه وکړه، بیا یې راس المال (اصلي مال) جلا کړ او له ګټې څخه یې خپله برخه واخیسته، د رب المال برخه یې د ګواهانو په شتون کې په اصلي مال کې ګډه کړه، نو په دې اړه امام مالک وایي: تر کومې چې رب المال حاضر نه وي، د ګټې وېشل درست نه دي، که مضاربت ترې لې څه اخستي وي، هغه دې هم په کې بېرته واچوي، تر دې چې د مال څښتن خپل مال ترلاسه کړي او څومره چې پاتې شي په خپل منځ کې یې ووېشي.(کتاب القراض: باب المحاسبة فی القراض)

د (امام مالک رحمه الله) خبره د عقل پر تله پوره خېژي، نو له همدې امله هېڅ عالم ورسره اختلاف نه شي کولای، ساده خبره ده چې کله رب المال او مضارب دواړه په ګټه کې شریک دي، نو ایا دا د هغه دنده نه ده چې رب المال حاضر کړي او ورته ووایي چې ما دا کاروبار وکړ، دومره مصارف راغلل او دومره ګټه پاتې شوه؟ نه دا چې ټولې پرېکړې په خپل سر وکړي.

ketabton.com - The Digital Library



# مرابحه

په اسلامي بانکونو کې چې د پانگونې کوم بېلابېلو ډولونه تر سترگو کېږي، له دوی څخه يې (مرابحه) د کرښې په سر کې ده، کومه چې د اسلامي بانکدارۍ په نوم په پراخه اندازه خپره شوې.

د (بيع مرابحه) مانا داده چې، پلورونکی توکي داسې پلوري، چې مشتري ته وايي؛ ما دا توکی په دومره پيسو رانيولی او د دومره گټې سره يې په دومره بيه پر تا پلورم. همدارنگه (علامه موفق الدين ابی محمد عبدالله بن احمد بن محمد قدامه حنبلی مقدسی) فرمايي: ((د (مرابحه) مانا داده چې د اصلي بيې او ټاکلې گټلې سره پلورل، په دې کې اړينه ده چې پلورونکي او پيرودونکي ته اصلي بيه مالومه وي، همدارنگه پلورونکی بايد ووايي چې دې کې زما اصلي پانگه دومره (سل) مصرف شوې او پر تا يې د (لس) افغانيو په گټلو سره پلورم.[٤]

په مشهور کتاب (المعجم الوسيط) کې ليکل شوي: ((هو بيع براس المال مع زيادة معلومة))

ژباړه: پر اصلي بيې د ټاکلې گټې سره پلورلو ته (بيع مرابحه) وايي. په عامه بيه او مرابحه کې همدا توپير دی، چې په عامه بيعه کې د شي اصلي بيه او خپله گټه ښودل اړين نه وي، خو په مرابحه کې مشتري ته اصلي بيه ښودل ډېر اړين دي.

---

[٤]: المغنی ۶، مخ- ۲۶۶

ketabton.com - The Digital Library



**د مرابحې شرطونه:**

- پلورونکي توکي باید فزیکي او حکمي شتون ولري، یعنې که له ده سره فزیکي نه وي، خو بیا هم دده د ملکیت لاندې وي او ټول حقوق یې له ده سره وي.
- خرڅوونکی مال باید د خرڅولو په وخت کې د خرڅوونکي په ملکیت کې وي.
- د مال خرڅلاو باید سمدستي او پر یو وخت ترسره شي، راتلونکي کوم شرط ته به منتظر نه وي.
- هغه څه چې پلورل کېږي، باید ارزښت او قیمت ولري، هغه شیان چې په اخیستلو او خرڅولو کې قیمت ونه لري، د بیع وړ نه دي.
- د پلورنې توکي باید حرام نه وي.
- د توکو بیه باید معلومه وي، که بیه یې نه وي معلومه پلورل او پېرل یې جواز نه لري.
- پلورنه باید بې شرطه وي، په شرطي ډول پلورل جواز نه لري.
- د توکو پر تسلیمولو باید مطمین وي، نه شکمن یا احتمالي.
- هغه څه چې پلورل کېږي، باید اخیستونکي ته معلوم وي او ورته وښودل شي او یا یې ځانګړنې یې ورته وویل شي، څو یې د نورو توکو تر منځ بیا توپیر وشي.

ketabton.com - The Digital Library



# مشارکت، مضاربت او مرابحه (پوښتنې او ځوابونه)

**پوښتنه: نن سبا چې دا کومه سوداګري روانه ده، لکه په یوه کمپنۍ کې خپلې پیسې بندې کړې او له هغې څخه درته هره میاشت ګټه راځي، ددې په اړه اسلام کې څه ویل شوي؟ یو خو په ګټه او تاوان کې شریک وي، دویم د ګټې یا تاوان اندازه یې ټاکل شوې وي، لکه (۵) فیصده.**

ځواب:

۱- په یوه کمپنۍ کې خپله پانګه جمع کول او په بدل کې یې ګټه لاسته راوړل په دوه شرطونو باندې حلال دي، یوه دا چې هغه کمپني به د شریعت له اصولو سره سم جایز او حلال کاروبار کوي، که د کومې کمپنۍ کاروبار د شریعت له اصولو سره برابر جایز نه وي، نو ددې ګټه لاسته راوړل هم جایز نه دي.

۲- دویم دا چې هغه کمپني به د شراکت (مضاربت) له اصولو سره سم ګټه په سمه توګه حسابوي او پر شریکانو به یې وېشي. کومه کمپنۍ چې له حساب پرته ګټه وېشي، په هغې کې شراکت کول جایز نه دي. همدا شان کومه کمپنۍ چې د پانګې په حساب په فیصدۍ ګټه وېشي، لکه؛ (( د پانګې پنځه سلنه))، نو په هغې کې هم پانګونه جایز نه ده، ځکه دا سود دی.

ketabton.com - The Digital Library



اوس دا تحقیق خپله وکړئ چې کومه کمپنۍ حلال او جایز کاروبار کوي او د شراکت له اصولو سره سم په شریکانو ګټه وېشي که نه؟

**پوښتنه: موږ تېر کال په (چراټ سیمنټ) کمپنۍ کې یو څه اندازه پانګونه کړې وه او غواړو چې نوره هم وکړو، خو د کمپنۍ له کلني راپور څخه راته ځینې شکونه پیدا شول، ددې لپاره چې زموږ ګټه سود جوړ نه شي، د لاندې پوښتنو ځواب راباندې ولوروئ؟**

**الف- نوموړې کمپنۍ بیمې ته له شریکو پیسو څخه پیسې ورکوي، لکه کمپنۍ چې بیمه شوې وي.**

**ب- نوموړې کمپنۍ ځینې پیسې د سود په ډول هغو بانکونو ته ورکوي له کومو څخه یې چې قرض کړي وي.**

**ج- کمپنۍ ته ځینې پیسې د سود له لارې راځي.**

**د- شریکان خپله برخه په نورو کسانو باندې په ګټه پلوري، لکه؛ په لس افغانۍ یې برخه اخستې وي، په پنځلس یې پلوري، په دې اړه څه حکم دی؟ که ذکر شوي ټکي د شریعت خلاف وي، نو خپلې برخې بېرته کمپنۍ ته ورکړو، که په بل عام وګړي یې وپلورو؟**

ځواب: کومه کمپنۍ چې د سود کاروبار کوي، په هغې کې شراکت کول صحیح نه دي، ځکه چې په دې سودي کاروبار کې ټول برخوال په ګناه کې

ketabton.com - The Digital Library



شریک کېږي. د کمپنۍ برخه په ډېر قیمت پلورل جایز دي. خپله خوښه دې که کمپنۍ ته یې ببېرته ورکوې یا یې پلورې.

**پوښتنه: په اوس وختونو کې یوه سوداګري ډېره په چټکۍ روانه ده، هغه دا چې یو شخص وایي؛ دومره پیسې زما په کاروبار کې ولګوه او دومره سلنه ګټه یې ترلاسه کړه. دا په داسې حال کې چې په مضاربت کې ګټه او نقصان نیم نیم وېشل کېږي. دا چې په دوکان کې په زرګونه ډوله شیان وي او د هر یو بېله بېله ګټه معلومول ډېر ستونزمن کار دی، نو آیا موږ د شریعت له مخې داسې کولای شو چې هره میاشت موږ د خرڅلاو له مخې خپله ګټه مالومه کړو او بیا د هغه له مخې د هرې میاشتې ګټه وټاکو؟**

ځواب: په مضاربت کې د هر شي بېله بېله ګټه مالوم اړین نه دي، بلکه ټول مال د شپږمیاشتنۍ یا کلنۍ (څنګه چې وي) ترلاسه شوې ګټې حساب مالوم او بیا وویشي. (کله چې ګټه شوې وي)

**پوښتنه: یو شخص د سلګونو زرو افغانیو سوداګري کوي، (زید) هغه ته په سوداګرۍ کې د ګډون کولو لپاره (لس زره) افغانۍ ورکوي او هوکړه کوي چې هره میاشت به (زید) ته د ګټې په توګه (۵۰۰) افغانۍ ورکوي، نوره ټوله ګټه به د دکاندار وي، همدا ډول به د تاوان کولو پر وخت د (زید) د تاوان برخه زیات نه زیاته (۵۰۰) افغانۍ وي، نور تاوان به د**

ketabton.com - The Digital Library



**دکاندار پر غاړه وي. ایا په شریعت کې داسې هوکړه کول جایز دي؟ که جایز نه وي، نو دا په کوم ډول واړوي، چې شرعي بڼه خپله کړي؟**

ځواب: دا معامله پاک سود دی، داسې په کار ده چې ددې (لس زره) افغانیو په بدل کې چې څومره ګټه لاسته راځي، د هغې یوه برخه دې زید ته ورکړل شي، د بېلګې په ډول: ((نیم یا درېیمه برخه دې زید ته ورکړل شي)).

**پوښتنه: ځینې خلک په شراکت کې یو شان پیسې لګوي، په دې هوکړه کوي چې هره میاشت به ګټه او تاوان د پچې اچونې له مخې ویستل کېږي، پچه چې د چا په نوم ووځي، نو ګټه او تاوان هم د همغه رسېږي، که هره میاشت پچه د یو سړي په نوم هم ووځي،نور به نیوکه نه وي. ایا شریعت د داسې کاروبار کولو اجازه راکوي؟**

ځواب: دا قمار دی.

**پوښتنه: دوه کسان په خپل منځ کې د شراکت پر بنسټ سوداګري کوي، دا په داسې حال کې چې د یو شخص پیسې کارول کېږي او د بل شخص کار (زیار)، ګټه په خپل منځ کې وېشي. که په دې سوداګرۍ کې تاوان وشي، نو تاوان باید څه ډول ووېشل شي؟**

ځواب: دا د شراکت (مضاربت) بڼه ده، که په شراکت کې تاوان وشي، نو هغه به په راس المال (هغه پیسې چې په کاروبار کې کارول شوې دي) کې حسابېږي. که له تاوان کېدو وروسته دواړه شریکان جلا کېدل غواړي، نو د

ketabton.com - The Digital Library



پیسو څښتن همدوره (د تاوان په اندازه) پیسې لاړې او د بل شریک کار (زیار)، خو که د راتلونکي لپاره هم دې کاروبار ته دوام ورکول غواړي، نو چې په راتلونکي کې څومره ګټه لاس ته راځي، له هغې څخه به لومړی د راس المال تاوان پوره کوي، له دې څخه چې بیا څومره ډېره ګټه کېږي، هغه به د دواړو تر منځ په سم ډول وېشل کېږي.

**پوښتنه: عبدالرحیم ته  محمد اقبال یوه (چېلۍ) په نیمایي بیه ورکړه، چې دې سره دواړه په دې (چېلۍ) کې شریک شول، عبدالرحیم ته یې وویل؛ ((ته به دا چېلۍ ساتې، چې څومره بچي زېږوي، په هغې کې به ښځینه بچي د دواړو شریک وي او که نر بچي زېږوي، نو هغې کې به زه شریک نه یم، هغه به ستا وي)) په شریعت کې دا شراکت چې د محمد اقبال او عبدالرحیم تر منځ ترسره کېږي چې په نر بچي کې د برخې نه درلودلو شرط هم لري، څنګه دی؟**

ځواب: دا شراکت بېخي درست نه دی، اول خو دا چې دواړه شریکان دي، ولې یې پر یو د چېلۍ ساتلو  بوج واچاوه؟ بیا دا شرط یې ولې کېښوده چې په ښځینه بچو کې به یې برخه وي په نر کې به نه وي؟

**پوښتنه: دوه شریکان یو ځای کاروبار کوي، د یو پانګه (٦٦) سلنه ده، د بل پانګه (۳۴) سلنه، د (۳۴) سلنې پانګې څښتن کاروبار پر مخ وړي، هغه وایي که تاوان وشي نو ټول به د (٦٦) سلنه پانګې څښتن پرې کوي، نه دی خپله. ایا د نوموړي شخص دا شرط لګول شرعاً جایز دی؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: کوم شریک چې کار پر مخ وړي، په ګټه کې یې برخه د پانګې په نسبت زیاته ورکول سم دي. د مثال په ډول: ((د (٦٦) سلنې ښښتن او (٣٣) سلنې څخه ګټه باید یو شان وي، خو که تاوان وشي نو د پانګې په نسبت دې د دواړو تر منځ وویشل شي. ټول تاوان پر یو کس پرې کولو والا شرط ناسم دی.

**پوښتنه: زما ملګری یوه کوچنۍ سوداګري پر مخ وړي، ما هغه ته یو څه پیسې د مضاربت په توګه ورکړې، څه موده وروسته راته مالومه شوه چې هغه زما پیسې په سوداګرۍ کې نه وې کارولې، بلکه په خپلو شخصي چارو کې یې لګولې وې، خو هغه زه د کاروبار په ګټه او تاوان کې شریک کړم، ماته چې یې کومه ګټه راکړې، هغه حلاله ده که حرامه؟**

ځواب: کله چې هغه ستا پیسې په کاروبار کې ونه لګولې نو بیا ګټه او تاوان له کومه شو؟ په کوم کې چې یې ته شریک کړی یې. که هغه ستا پیسې په کاروبار کې نه وي لګولې او د هغه په بدل کې یې ستا د پیسو په اندازه پیسې کاروبار ته ورکړې وي او ته یې کاروبار کې شریک کړی یې، نو بیا چې له دې کاروبار څخه څومره ګټه لاسته راځي او په هغه کې یې ستا د پیسو په نسبت ستا برخه کړې وي، نو بیا خو دا ګټه حلاله ده او که هغه کاروبار کې ستا لپاره ستا د پیسو په اندازه پیسې نه وي لګولي او یا یې پیسې لګولې وي او بې له دې چې ګټه حساب کړي او تاته برخه درکړي، بلکه ستا د پیسو لپاره یې یوه اندازه ګټه ټاکلي وي او هغه درکوي نو دا حرام دي.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: زه یو دکاندار ته د (دوه زره) افغانیو مال ورکوم، چې کله (پنځلس) یا (شل) ورځې پس مال ختم شي، نو هغه ماته د (دوه زره) افغانیو سربېره (دوه سوه، دوه نیم سوه، یا درې سوه) افغانۍ نوره ګټه هم راکوي، یوه ورځ هغه ماته وویل چې ته هره میاشت له ما څخه ټاکلې دوه سوه افغانۍ ګټه اخله، مه زیاته اخله او مه کمه، ځکه هغه ډول ورته ډېره ګټه نه پاتې کېده. زه په شک کې یم چې دا ډول ټاکلې ګټه اخستل خو به زما لپاره سود نه وي؟ دا ډول ګټه اخستل زما لپاره سود دی که نه؟**

ځواب: ته چې په مال باندې کومه ګټه اخلې، هغه له بیې سره یو ځای کړه، د بېلګې په ډول: د (دوه زره) افغانیو مال دې ورکړ، اوس چې په دې مال څومره ګټه اخستل غواړې، نو هغه له دې (دوه زره) سره یو ځای کړه او ورته ووایه، دا د دومره پیسو مال دی.

**پوښتنه: په شراکت کاروبار کې د یو شخص پیسې کارول کېږي او بل شخص کار کوي، ایا دا کاروبار جایز دی؟ که جایز وي نو دواړه یوازې په ګټه کې شریک دي، که تاوان کې هم باید شریک وي؟**

ځواب: لومړی باید په دې پوه شو چې دا ډول کاروبار (شراکت) نه بلکې په فقه کې دې ته (مضاربت) وایي او دا ډول کاروبار جایز دی.

ketabton.com - The Digital Library



که ګټه لاسته راوړي، نو د دواړو تر منځ دې د ټاکل شوو برخو په اندازه وویشل شي، که تاوان وشي، تاوان به د پانګوال (هغه شخص چې په کاروبار کې يې پيسې بندې دي) برخه وي، نه د کار کوونکي. د بېلګې په ډول: (پنځوس زره) افغانۍ پانګه وه، په کاروبار کې تاوان وشو، نو داسې فکر وکړئ چې پانګه (څلوېښت زره) پاتې شوه، اوس که دواړه دا کاروبار له منځه وړل غواړي، نو پانګوال له کار کوونکي څخه د (لس زره) افغانيو په بدل کې هېڅ څه شی نه شي غوښتلی، البته که له تاوان وروسته بيا هم کاروبار ته دوام ورکول غواړي، نو په راتلونکي کې چې کومه ګټه ترلاسه کېږي، له هغې څخه به لومړی د پانګوال پانګه پوره کېږي، چې کله پانګه بېرته (پنځوس زره) ته ورسېږي، نو بيا چې ګټه څومره پاتې شي هغه دې د ټاکل شوې اندازې برابر د دواړو تر منځ ووېشل شي.

**پوښتنه: (زيد) ته د سوداګرۍ پيلولو لپاره د پيسو اړتيا ده، هغه له (بکر) څخه څه پيسې په دې شرط اخلي چې هره مياشت به ټاکلې اندازه پيسې (زيد) ته د ګټې په نوم ورکوي، (زيد) دا کار ددې لپاره کوي چې هغه هر وخت د حساب کتاب کولو څخه خلاص وي، يوازې څو ټاکلې اندازه پيسې (بکر) ته ورکړي، شرعاً ددې کاروبار څه حکم دی؟**

ځواب: کومه بڼه سوداګري چې تا ليکلې، دا واضح سود دی، جايزه او سمه بڼه يې دا ده چې (زيد) د (بکر) په پانګه سوداګري وکړي، په دې کې چې څومره ګټه لاسته راځي، دا دې د ټاکل شوې اندازې له مخې په خپل منځ

ketabton.com - The Digital Library



کې وویشي. د بېلګې په ډول: په ګټه کې به د دواړو برخه یو ډول وي، یا به د یو (شپېته) او د بل (څلوېښت) سلنه وي.

**پوښتنه: زما یو ملګري یو شخص ته د کاروبار کولو لپاره پیسې ورکړې دي، په هغو پیسو چې هغه شخص څومره ګټه کوي، د هغې څلورمه برخه هره میاشت زما ملګري ته ورکوي، دا ګټه زما د ملګري لپاره جایز ده که نه؟ دا په داسې حال کې چې په کاروبار کې یې یوازې پیسې کارول کېږي، دی په کې خپله کار نه کوي.**

ځواب: که هغه شخص کوم جایز کاروبار ترسره کوي، نو ستا د ملګري لپاره ګټه اخستل جایز دي.

**پوښتنه: ما د څه کاروبار لپاره له یو شخص څخه پیسې واخیستې، هغه شخص ته به مې هره میاشت د ترلاسه شوې ګټې (څلورمه) برخه استوله او درې برخې به یې ما اخیستې، یوه ورځ د هغه اصلي پیسې چې ما په کاروبار کې کارولې زما له مېرمنې څخه وسوزېدې، اوس زه نوموړي شخص ته د هغه اصلي پیسې بېرته ورکړم که د ګټې څلورمه برخه هم ورسره ورکړم؟**

ځواب: تاسو پیسې ګټئ، تر څو لومړی د هغه اصلي پیسې چې کاروبار پرې چلېده پوره کړئ، چې کله یې پیسې پوره شي او ګټه پاتې شي، نو لاسته راغلې ګټه بیا په خپل منځ کې د ټاکل شوې اندازې له مخې ووېشئ.

ketabton.com - The Digital Library



# ربا (سود)

((ربا)) د عربي ژبې لفظ دی، چې مانا یې زیاتوالی، لوړوالی او اضافه والی دی، په پښتو، اردو، دري او ځینو نورو ژبو کې ورته ((سود)) ویل کېږي. په انګلیسي ژبه کې ورته (interest) او (Usury) هم ویل کېږي.

له ربا څخه مراد د پر ټاکلي وخت قرض هغه اضافه پیسې اخیستل دي، د کومو پیسو غوښتنه چې قرض ورکوونکی له قرض اخستونکي څخه کوي او دا پرېکړه یې له لومړي وخت څخه کړې وي.

د شرعي اصطلاح کې د سود تعریف داسې دی.

((هغه په شرط ټاکل شوې اضافه ده، چې یو شخص یې بې له کوم حق څخه لاسته راوړي))

په قران کریم کې الله تعالی فرمایي:

﴿قالوا إِنَّمَا البَيعُ مِثلُ الرِّبوٰا ۗ وَأَحَلَّ اللَّهُ البَيعَ وَحَرَّمَ الرِّبوٰا...[٢٧٥]﴾ ...سورة البقرة

ژباړه:سود خوړونکو وویل؛ چې سود او تجارت یو شی دی، خو الله تعالی بیع حلاله کړې او سود یې حرام کړی.

ketabton.com - The Digital Library



# د تجارت او سود تر منځ توپیر

﴿قالوا إِنَّمَا البَيعُ مِثلُ الرِّبوٰا ۗ وَأَحَلَّ اللَّهُ البَيعَ وَحَرَّمَ الرِّبوٰا...﴾٢٧٥ ...سورة البقرة

ددې ایت مانا ته د رسېدلو لپاره اړینه ده چې د بیع او سود په اضافه والي کې فرق وپېژنو چې پر کوم بنسټ د بیع ګټه جایز او د سود اضافه والی جایز نه دی، دا فرق لاندې ذکر شوی.

۱- په تجارت کې د ګټې ترلاسه کول یقیني نه وي، بلکه د ګټې تر څنګ د تاوان احتمال هم وي، خو په سود کې ګټه او اضافه والی حتمي او یقیني وي او سود ورکوونکی یې د ترلاسه کولو لپاره له هېڅ خطر سره نه مخ کېږي.

۲- د تجارت په حالت کې یو جنس په نغدو اخستل او خرڅول کېږي او د دې جنس په تیارولو کې بشري ځواک مصرفېږي تر څو د پلورنې وړ شي، او ترلاسه کېدونکې ګټه ددې بشري ځواک او هڅو ثمره وي، خو د سود په حالت کې پیسې له پیسو سره پلورل کېږي او ترلاسه کېدونکې ګټه یوازې د پیسو د خاصې مودې په بدل کې ترلاسه کېږي.

ketabton.com - The Digital Library



۳- په تجارت کې دا هوکړه یا راکړه ورکړه په عام ډول یو لنډ وخت وروسته پای ته رسېږي، خو د سود په حالت کې د یوې اوږدې مودې یا د نامعلومه وخت لپاره دوام لري.

۴- په مضاربت یا مشارکت کې د دواړه لوریو تر منځ همکاري او همدردي ډېره وي، ځکه د دوی ګټه شریکه وي، خو په سودي کاروبار کې د سود اخستونکي یوازې خپل سود سره کار وي.

۵- په اسلامي نظام کې د صدقې مال ټول د غریبانو په برخه وي، خو په سودي کاروبار کې ټول مال له غریب څخه مالدار ته ځي، اسلام چې کومه ټولنه د ورورولۍ پر مخ بیایي، سود یې د ځانځانۍ او خپلګټو پر لور بیایي.

ketabton.com - The Digital Library



# پوښتنې او ځوابونه

**پوښتنه: ما د پاکستان ملي بانک په یوه پروژه کې ګډون کړی دی، هغه داسې ده چې د (٦٦) میاشتو لپاره به زه هره میاشت (١٠٠) افغانۍ ورکوم، (٦٦) میاشتې بعد زما ټولې پیسې (٦٦٠٠) جمع کېږي، نو بیا له هغه وروسته به تر هغې پورې ماته بانک هره میاشت (سل) افغانۍ راکوي، تر څو چې ما خپلې (٦٦٠٠) ترې نه وي اخستي، یعنې (٦٦٠٠) افغانۍ به مې امانت پرتې وي. ایا یو کاریګر سړی د دا ډول عاید بندوبست کولای شي؟**

ځواب: ستا اصلي پیسې خو په بانک کې پرتې دي، هره میاشت چې کومې سل افغانۍ درکوي دا سود دی.

**پوښتنه: ما سره د جومات د مرستې پیسې دي، کله چې یې یو څه اندازه مصرف کړم او نورې یې اضافه شي، نو هغه په یو بانک کې اچوم، هلته چې په دغه پیسو کومه ګټه راځي له هغې سره څه وکړم؟ په جومات کې یې وکاروم که نه؟**

ځواب: تاسو د جومات پیسو لپاره ((کرنټ اکاونټ)) جوړ کړئ، په دغه بانکي حساب باندې ګټه نه راځي او کومه ګټه مو چې ترلاسه کړې وي، هغه په جومات کې مه مصرفوئ کوم غریب شخص ته یې ورکړئ.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: د سود پیسې په کاروبار کې لګول او په دې کې د الله تعالی څخه برکت غوښتل، آیا په دې کې به برکت وي که بربادي؟**

ځواب: په سود باندې پیسې اخستل ګناه ده، له دې څخه توبه او استغفار په کار دی، نه دا چې د برکت دعا ورته وه شي، دا تجربه ده چې کومو خلکو چې له بانک څخه د قرض په شکل سودي پیسې اخستې وي، هغه د دې قرض په جال کې داسې نښتی وي چې خلاصېدل یې ډېر ستونزمن وي.

**پوښتنه: ما د ځینو دوستانو په وینا په یوه کمپنۍ کې (۲۰) زره افغانۍ جمع کړې، چې تر اته میاشتو یې ماته هره میاشت ګټه راکړه، نو په اته میاشتو کې یې ټولې (۸) زره افغانۍ ماته راورسولې، خو وروسته بیا هغه کمپني وتختېده، پوښتنه داده چې هغه (اته زره) افغانۍ چې د ګټې یا سود په شکل کې یې ماته راکولې، زما لپاره د قرض عوض کې حلالېدلای شي که نه، ځکه هغې کمپنۍ ته اوس هم زما (۱۲) زره افغانۍ پاتې دي. اته زره یې ماته رسېدلي دي.**

ځواب: که سود یې درکوو نو حلالې نه وې، خو ستا (۲۰) زره افغانۍ د دوی پر غاړه وې، له دې څخه (اته زره) تاته د قرض په شکل کې بېرته دررسېدلې، نو دا جایز دي.

**پوښتنه: بانک کې چې د (پي ایل ایس) په نوم په شراکت کې کومې پیسې جمع کېږي او هغوی له دې څخه زکات هم ورکوي او (٦) سلنه ګټه هم درکوي، آیا دا د قران او سنت له مخې جایز دي؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: حکومت دې ته (غیر سودي) وایي، خو ددې په اړه چې کوم مالومات راجمع شوي، دا په ډاګه کوي چې دې سیستم ته (غیر سودي) ویل فقط د نوم لپاره دي، په حقیقت کې دا هم سودي معامله ده.

**پوښتنه: زه د څلورو بچو مور یم، څلور میاشتې د مخه مې خاوند وفات شو، زما عمر اوس (۲٦) کاله دی، د خاوند تر وفات کېدو وروسته د هغه له دفتر څخه ماته (سل زره) افغانۍ د فنډ په شکل کې راکړل شوې، اوس ډېر خلک ماته وایي چې دا پیسې په بانک کې واچوم او هره میاشت له دې څخه ګټه واخلم او خپل بچي پرې وساتم، دا خبره تر کوم حده د منلو ده؟ خو زما په اند اول خو دا پیسې حرامې دي، بیا څنګه پرې نورې حرامې پیسې وګټم؟ خو خلک راته وایي دا حرامې نه دي، په مجبورۍ کې هر څه جایز دي، خو زه هېڅ نه پوهېږم څه وکړم؟**

پوښتنه: الله تعالی ستا او ستا د بچو ساتنه کوي، ستا خاوند ته چې کومې پیسې د هغه له دفتر څخه ورکړل شوي دي، که کار یې جایز و، نو دا پیسې هم حلالې دي، خو دا په بانک کې کېښودل او په دې ګټه اخستل حلال نه دي، بلکه سود دی. که تاسره کوم نېک انسان نکاح کول وغواړي او ستا د بچو روزنه هم وکړي، نو ستا لپاره به نکاح کول ډېر مناسب وي. کنه الله تعالی ساتونکی دی، خپله کار مزدوري وکړه او بچي وساته او د دوی د نېک عمله لوېبدو لپاره دعا ګاني کوه، الله تعالی دې پر تا او ستا پر بچو اساني راولي. امین!

**پوښتنه: د (نیشنل ډیفنس سیونګ اسکیم) په نوم یوه پروژه حکومت په لاره اچولې، ماته چا وویل چې په دې کې پیسې جمع کول او په هغې پیسو ګټه اخستل جایز دي، ځکه په دې پیسو د هېواد د دفاع په خاطر**

ketabton.com - The Digital Library



**وسله اخستل کېږي او د هېواد په کار راځي، اوس چې دوی کومه وسله اخلي، هغه که پنځه کاله بعد واخلي، نو ډېره بيه پرې راځي، نو ځکه يې حکومت له اوسه اخلي. ايا په دې پروژه کې پيسې لګول او ګټه اخستل جايز دي؟**

ځواب: که حکومت په دې پيسو ګټه ورکوي نو دا سود دی.

**پوښتنه: ځينې خلک د پانګې راکړه ورکړه د (سلنې) له مخې کوي، (يعنې ۱۵ سلنه د مياشتې، ۱۰ سلنه د مياشتې)، ځينې خلک ورته سود وايي، خو ځينې وايي دا سود نه دی، موږ له يو ملا څخه پوښتنه وکړه، نو هغه راته دا بېخي جايز وويل. اوس موږ سم نه پوهېږو چې دا حلال دي که حرام؟**

ځواب: د (سلنې) له مخې ګټه اخستل سوچه سود دی، کوم مولا صيب چې دغه فتوا درکړې، هغه ناخبره دی، دا بايد د خپلې غلطې فتوا توبه وباسي، کومو خلکو چې سود اخيستی وي، دوی بايد بې له صدقې نيت لرلو څخه همغه اندازه پيسې په غريبانو وويشي.

**پوښتنه: که په يوه کمپنۍ کې د برخې په ډول پيسې جمع کړو او هغه کمپني د ګټې او تاوان پر بنسټ وي او هره مياشت هغه کاروبار وکړي او موږ ته ګټه راکړي، داسې ټاکلې اندازه پيسې نه وي، چې په (سل) افغانيو به (څلور يا درې) افغانۍ راکوي، بس څومره چې ګټه او تاوان وي، په خپله اندازه يې راکوي او څومره پيسې مو چې جمع کړې دي،**

ketabton.com - The Digital Library



**همغه اندازه به وي، کله چې زموږ زړه وي راویستلی یې شو، نو دا جایز دي؟**

ځواب: که د کمپنۍ کاروبار د شریعت خلاف نه وي او د مضاربت پر اصولو ګټه وویشي، ټاکلې اندازه ګټه نه وي، نو دا ګټه جایز ګټه ده.

**پوښتنه: پیسې په پیسو بدلول جایز دي که نه؟**

ځواب: له پیسو سره د پیسو تبادله جایزه ده، خو دواړه لوري باید یو اندازه وي، کمی کول جایز نه دی او له دواړو خواوو څخه به نغد وي، قرض هم جایز نه دی.

**پوښتنه: که له چا سره په داسې وخت کې پیسې نه وي، نو هغه کولای شي چې اوس پیسې واخلي او بیا څه موده پس ورته پیسې ورکړي؟**

ځواب: بیا دې پیسې قرض واخلي او څه موده پس دې قرض پرې کړي.

**پوښتنه: احمد یو موټر اخستل غواړي چې بیه یې (۳۰۰۰۰) زره افغانۍ ده، خو له احمد سره (۳۰)زره افغانۍ نه شته، هغه ځي له کمپنۍ څخه د موټر بل جوړوي او بانک ته راځي، بانک یې ورته اخلي، خو کله چې (احمد) بینک ته قرضه پرې کوي نو په قسطونو به (۳۵) زره افغانۍ پرې کوي، ایا دا (پنځه زره) افغانۍ د بانک لپاره سود دی که نه؟**

ځواب: په دې راکړه ورکړه کې دوه شکلونه دي:

ketabton.com - The Digital Library



اول دا چې که بانک دغه موټر په (۳۰)زره واخلي او په (۳۵) زره يې خرڅ کړي، يعنې له کمپنۍ سره د موټر سودا بانک وکړي او د ګاډي اخستلو وروسته يې په دې شخص وپلوري، نو دا حالت يې جايز دی.

دويم دا چې دا موټر خو (احمد) واخيست او د ګاړي د بل پرې کولو لپاره يې له بانک څخه قرض واخيست، بانک په (۳۰) زره افغانو باندې (۵) زره افغانۍ سود ولګو او قرض يې ورکړ، دا شکل يې ناجايز دی، تا چې کوم شکل ليکلی، د دويم حالت سره سمون خوري، ددې لپاره جايز نه دی.

ketabton.com - The Digital Library



# کور، زمکه، دکان او نور شیان په کرایه ورکول پوښتنې او ځوابونه

**پوښتنه: زمکه په دهقانۍ ورکول جایز دي که نه؟ دا خو سود کې نه راځي؟**

ځواب: زمکه په ټېکه ورکول او کور پر کرایه ورکول خو د ټولو علماو په نظر جایز دي، خو زمکه په دهقانۍ ورکولو کې اختلاف دی، خو فتوا په دې ده چې دهقاني جایز ده، په سود یې قیاس کول غلط دي، خو که په (مضاربت) یې قیاس کړو صحیح ده او مضاربت جایز دی.

**پوښتنه: کومه کرایه چې له کور یا جایداد څخه لاسته راځي، ایا دا سود دی؟**

ځواب:  که له جایداد څخه مو موخه زمکه، کور، دکان او نور وي، نو د دې شیانو په کرایه ورکولو اجازت په حدیث کې راغلی دی، دې ته د سود فکر کول او ویل غلط دي.

**پوښنه: که کوم شخص یو کور واخلي او په کرایه یې ورکړي، نو په دې ډول د دې کور کرایه سود ده که نه؟ کوم شیان چې موږ په ودونو کې په کرایه راوړو لکه لوښي اونور شیان، آیا دا هم سود دی؟**

ketabton.com - The Digital Library



ځواب: کور او سامان په کرایه اخستل جایز دي، ددې عاید په سود کې نه حسابیږي.

**پوښتنه: یو شخص یو دکان له مالک څخه په (۲۴) زره افغانۍ نیولی او کرایه یې هم د میاشتې (پنځوس) افغانۍ ورکوي، زه اوس دغه دکان له هغې څخه په (۲۵۰) افغانۍ په کرایي نیول غواړم، ایا زما او د هغه لپاره داسې کار کول جایز دي؟**

ځواب: ستا لپاره ددې دکان په کرایه اخستل جایز دي، په دې کې شرعاً هیڅ ممانعت نشته.

**پوښتنه: په نا اباد ځای لکه؛ (ځنګل) کې کور جوړول، کوم چې دولتي ځای دی، ددې په کرایه اخیستل سم دي که نه؟**

ځواب: که د حکومت په اجازه کور جوړ شي نو په کرایه اخستل یې جایز دي.

**پوښتنه: د کور څښتن چې له کرایه دار څخه ایډوانس (پېشکي) پیسې اخلي دا امانت دی که قرض؟**

ځواب: دا خو امانت دی،خو که د کرایه دار له خوا یې د کارونې اجازت وي، نو دا قرض شمېرل کیږي.

**پوښتنه: ایا د کور مالک هغه پیسې په خپله خوښه کارولی شي؟**

ځواب: د پیسو مالک له اجازې پرته یې نه شي کارولی.

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه: که دکور مالک دغه پیسې په کوم ناجایز کار کې ولګوي نو ګناه یې پر کرایه دار ده؟**

ځواب: نه

**پوښتنه: کرایه به هر کال ددې پیسو زکات ورکول که نه؟**

ځواب: هو ورکوي به یې.

**پوښتنه: که د کور مالک دغه پیسې په جایز کار کې ولګوي، بیا هم ګناهګار دی؟**

ځواب: که د پیسو مالک په اجازه یې ولګوي، نو نه دی ګناهګار.

**پوښتنه: د کور مالک له یو طرفه لوړه کرایه اخلي، بیا د ایډوانس په نوم هم له پیسو ګټه اخلي، بیا په کال دوه کې په کرایه کې هم لوړوالی راولي، نو ایا دا ظلم نه دی؟**

ځواب: د ضمانت موخه دا وي چې کرایه دار د اوسېدو پر مهال کور ته تاوان اړوي، ځینې وختونه، د برق بیل او نور شیان پرېږدي او ځي، نو د کور مالک یې باید پرې کړي، نو د دې لپاره د کرایه دار څخه ضمانت کېښودل کېږي، که پوره باور وي نو بیا د ضمانت کېښودلو اړتیا نه شته.

**پوښتنه: یو مالک خپل دکانونه په کرایه ورکوي، په هوکړه لیک کې ورسره دا لیکی چې که چېرې کرایه پر وخت ورنه کړل شي، نو مالي**

ketabton.com - The Digital Library



**جرمانه به ورکوي، کرایه داران یې ورسره په خوشالۍ مني، ایا دا جایز ده؟**

ځواب: شرعاً دا ډول مالي جرمانه اخیستل جایز نه دي.

**پوښتنه: زه یو دکان لرم، هغه نایي (وېښته جوړوونکی) ته په کرایه ورکول غواړم، ښکاره خبره داده چې په دې دکان کې به د خلکو ږیرې کمېږي، نو په دې زما لپاره شرعي حکم څه نه؟**

ځواب: ته د حرامو پیسو اخستلو باندې مجبور نه یې، هغه ته ووایه چې د ږیرې کمولو پیسې زه نه اخلم، ماته حلالې پیسې راکوه، که له بل چا یې درته قرض کړي هم صحیح ده.

ketabton.com - The Digital Library



# د برخو (Shares) کاروبار (پوښتنې او ځوابونه)

**پوښتنه:** الف- یو شخص د یوې کمپنۍ څه برخې اخلي، ژر یا وروسته یې په خپل نوم کوي او بیا یې بېرته پلوري، په دې چې کومه ګټه لاسته راځي، دا حلاله ده که حرامه؟

ب- یو شخص د یوې کمپنۍ څه برخې اخلي او له ځان سره یې ساتي، په دې باندې چې کمپني کومه ګټه یا بونس ورکوي، دا حلال دی که حرام؟

ج- د کمپنۍ برخې له ځان سره ساتلو باندې د هغې په بیه کې چې کوم لوړوالی راځي، دا حلال دی که حرام؟

ځواب: برخې اصل کې د یوې کمپنۍ ملکیت وي، د بېلګې په ډول: (د (یو میلیون) افغانیو برخې وي، ځینې برخې بیا د کمپنۍ څښتنان له ځان سره ساتي او ځینې په عامو خلکو پلوري، هر شخص بیا د خپلې برخې په نسبت د کمپنۍ په ملکیت کې شمېرل کېږي، ځینې خلک خپلې برخې پلوري او د ملکیت نورو ته انتقالوي، نو له دې امله د برخو اخستل او خرڅول جایز دي، په دې شرط چې د کمپنۍ کاروبار صحیح او جایز وي، په دې برخو باندې د

ketabton.com - The Digital Library



کمپنۍ له خوا لاسته راغلې گټه هم جایز ده، په دې شرط چې هغوی ټوله گټه په برخو تقسیم کړې وي. والله اعلم!

**پوښتنه: زه د کمپنۍ د برخو (Shares) اخستل او خرڅول کوم، په دې کې د گټې او تاوان دواړو احتمال وي، کمپنۍ د کال په وروستیو کې پر برخه اخستونکو باندې یو څه اندازه گټه هم وېشي، چې هغې ته ((ډیویډنډ)) وایي، آیا دا کاروبار او گټه جایز ده؟**

ځواب: د کمپنۍ مثال داسې دی لکه څو تنه چې یو ځای شي او یو دکان په شریکه پرانیزي، یا کومه فابریکه جوړه کړي، دوی هر یو به په دکان یا کارخانه کې د خپلې برخې په اندازه شریک وي او د خپلې برخې په اندازه د گټې لاسته راوړلو حق لري، په دې ټولو کې هر یو حق لري چې خپله برخه په بل شخص وپلوري. د کمپنۍ برخې هم داسې وگڼې، نو له دې امله د کمپنۍ د برخو اخستل او پلورل جایز دي، البته په دې شرط چې د کمپنۍ کاروبار به حلال وي، د کومې کمپنۍ کاروبار چې جایز نه وي، د هغې برخې اخستل هم جایز نه دي. د بېلگې په ډول؛ بانکونه د سود کاروبار کوي، نو د هغې برخه اخستل هم حرام دي.

**پوښتنه: ۱- نن سبا ځینې سوداگریزې ادارې د پانگې ډېرولو یا نوې ادارې د خپلې سوداگرۍ د پیلولو لپاره پر خلکو د کمپنۍ برخې پلوري، ددې برخو بیه په عام ډول (لس) افغانۍ یوه برخه وي، نو له دې امله د بانکونو له لارې عریضې جمع کوي، د ډېرو عریضو له جمع کولو وروسته بیا د ټولو عریضو تر منځ پچه اچوي، د هر چا چې پچه راوخېژي، د کمپنۍ برخه پرې پلوري. په پچه اچونه کې د یوې برخې بیه (لس) افغانۍ وي، خو په (سټاک مارکیټ) کې یې د کمپنۍ د ښه**

ketabton.com - The Digital Library



**نوم لرلو له امله بيه لوړېږي او ځينې وختونه يې بيه ټيټېږي هم، يعنې کله يوه برخه په (۹) يا (۸) افغانۍ پلورل کېږي، کله په (۲۰) يا (۲۵) افغانۍ، برخه په ازاد بازار کې هم پلورل کېدلای شي. که دا برخه د څه مودې يا (شپږو) مياشتو لپاره وساتل شي، نو کمپنۍ پرې د ګټې ورکولو اعلان هم کوي، چې د يوې ځانګړې فيصدۍ له مخې هر چاته که (۱۰۰) برخې ولري د (سلو) په اندازه او که (۱۰۰۰) برخې ولري د (زرو) په اندازه ګټه ورکول کېږي. د دا ډول برخو اخستل صحيح دي که نه؟**

**۲- که واخيستل شي، نو د ګټې يا تاوان پر بنسټ يې بېرته پلورل سم دي که نه؟**

**۳- دا برخې په دې نيت ساتل چې په دې به ګټه لاسته راځي، سم کار دی که نه؟**

**۴- د ګټې اخستل درست دي که نه؟**

ځواب: د برخې (Shares) اخستلو مانا په کمپنۍ کې شراکت کول دي، چا چې څومره برخې واخستې هغه د خپلو پيسو د اندازې په نسبت د هغې کمپنۍ مالک او په هغې کې شريک شو، که کومې کمپنۍ، ميل يا فابريکه ولګوله نو نوموړی شخص په کې د خپلې پانګې په اندازه شريک دی او د خپلې برخې پلورلو واک لري، نو د برخې اخستل او پلورل جايز دي، خو دلته د درې ټکو يادول ډېر اړين دي:

ketabton.com - The Digital Library



اول- تر کومه چې کمپنۍ کومه فابریکه یا میل نه وي لګولی، تر هغې پورې برخه د پیسو حیثیت لري، نو د (۱۰) افغانۍ ته بیا په (۹) یا (۱۱) نه شې پلورلی، دا سوچه سود دی.

دویم- په عام ډول داسې کمپنۍ د سود کاروبار کوي، په دې ګناه کې به ټول برخه اخستونکی شریک وي.

دریيم- په یوې کمپنۍ کې شراکت هغه وخت جایز دی، چې په هغې کې ټولې معاملې صحیح او جایز وي، که د کمپنۍ کومه معامله د شریعت پر ضد وي او برخه اخستونکو ته ددې په اړه مالومات هم وي، نو برخه اخستونکي به هم ګناهګار وي، په داسې کمپنۍ کې شراکت کول جایز نه دي.

ketabton.com - The Digital Library



# احتکار

ځيني خلک د شخصي ګټو په خاطر ددې پر ځای چې د نورو خلکو اړتیاوې په نظر کې ونيسي، مال او ضروري شيان ذخيره کوي، د کمي او قيمتۍ پر وخت يې بيا بازار ته راوباسي او په خپله خوښه يې په لوړه بيه پلوري، چې دې ته په اسلامي شريعت کې احتکار وايي.

په اسلامي شريعت کې احتکار ډېر ناوړه عمل بلل شوی، نبي عليه السلام فرمايلي: هغه څوک چې د نرخ لوړولو سببونه پيدا کوي، په هيبتناک اور کې به واچول شي او احتکار کوونکي شخص ته يې ملعون ويلي.

ketabton.com - The Digital Library



# احتکار (پوښتنې او ځوابونه)

**پوښتنه: ځینې وختونه سوداګر خپل مال بازار ته ډېر عرضه کړي، په یو خاص تخفیف سره یې پلوري، بیا همدا مال ذخیره کړي، چې کله بازار کې ختم شي او د خلکو اړتیا ورته ډېره وي، نو بیا یې بازار ته راوباسي او په لوړه بیه یې پلوري او ډېره ګټه لاسته راوړي، آیا دا جایز دي؟**

ځواب: مال داسې ذخیره کول چې له هغه څخه خلکو ته تکلیف او خفګان رسېږي، حرام دي. په حدیث کې یې دغه ډول مال ذخیره کوونکي ته ملعون ویلي دي، خو که خلکو ته تکلیف پرې نه رسېږي نو بیا مال ذخیره کول جایز دي. لېکن کله چې یو شخص د مال د بیې لوړوالي لپاره مال ذخیره کوي نو دا کار یې له بدوالي څخه خالي نه دی.

**پوښتنه: د مال ذخیره کولو څه حکم دی؟**

ځواب: د مال ذخیره کولو څو بڼې دي او د هر یو حکم جدا دی، یو شکل یې دادی چې یو شخص د خپلې زمکې غله وساتي او ویې نه پلوري، نو دا شکل سم دی، خو په دې شکل کې د قیمتۍ او قحط انتظار کول ګناه ده.که خلک د غلې له کموالي سره مخ دي، نو دی باید له خپلې اړتیا اضافه غله وپلوري.

دویم شکل یې دادی چې؛ یو شخص غله اخلي او هغه ذخیره کوي، چې کله خلک له قحط او د غلې له کموالي سره مخامخ شي نو بیا یې

ketabton.com - The Digital Library



بازار ته راوړي، دا شکل يې حرام دی، محمد صلی الله عليه وسلم دغې شخص ته ملعون ويلي.

دريم شکل يې دادی چې؛ که په بازار کې د دغه جنس کموالی نه وي او خلک ورته ډېره اړتيا نه لري، نو په داسې حالت کې يې ذخيره کول جايز دي، خو د قيمتۍ په انتظار کې غله ساتل له احتکار څخه خالي نه وي.

**پوښتنه: په کال کې يو ځل د مشروباتو کمپنيو له لوري دکاندارانو ته اعلان کېږي او ورته وايي که په دغه ټاکلې موده کې مو سودا واخيستله نو تاسو ته به خاص تخفيف درکړل شي، نو دکانداران بيا په هغه موده کې ډېره سودا اخلي او ذخيره کوي يې، چې کله هغه موده پای ته ورسېږي، نو هغه توکي بېرته په عامه بيه شي، چې دکاندارانو ته په کې ډېره ګټه پاتې کېږي، خو مشتريانو ته په دې کې هېڅ ډول ستونزه نه پيښېږي، آيا دا ډول ذخيره کول جايز دي که نه؟**

ځواب: که د دغو توکو قحطي نه وي او مشتريانو ته د دې په ذخيره کولو هېڅ ستونزه نه پيښېږي، نو په ارزانه بيه د ډېره شيانو اخستل هېڅ جرم نه دی.

ketabton.com - The Digital Library



# د قسطونو کاروبار

**پوښتنه: په قسطونو باندې د موټرو اخستل په سود کې راځي که نه؟**

ځواب: که پلورونکی په بشپړ ډول د موټر ټول اسناد اخستونکي ته ورکړي او په قسطونو يې وپلوري، نو جايز دي. په دې کې پر قرض پلورلو له امله د موټر په اصلي بيه کې زياتوالی جايز دی، دا په سود کې نه راځي. خو په دې خبره کې دا ډېره اړينه ده چې په همدې يو ځای دا پرېکړه وکړي چې په نغدو يې اخلي که په قرض چې د هغه له مخې نرخ وټاکي، د بېلګې په ډول: د يو شي د نغدو بيه (۵۰۰۰) افغانۍ او د قرض قسطونو بيه يې (۷۰۰۰) افغانۍ وي، نو په بيه کې دا ډول ډېروالی جايز او په سود کې نه راځي.

**پوښتنه: مېرمن مې د زوی لپاره يو داسې دکان پرانيستلی چې شيان په قسطونو پلوري، خو زه يې مخالف يم، ځکه چې په دې کاروبار کې مشتري ته په ژبني ډول ويل کېږي چې دا شيان تاته په قسطونو درکول کېږي چې ته په اسانه ډول لوی او قيمته شيان واخيستلای شې، خو په کاغذونو کې يې ورته (کرايه دار) ليکلی وي او دا يې هم ليکلي وي چې که چېرې قسطونه پر خپل وخت ور نه کړئ، نو شيان به بېرته درڅخه اخستل کېږي. په دې اړه د شريعت له مخې ستاسو نظر څه دی؟**

ځواب: په قسطونو شيان ورکول جايز دي، خو په دې کې دا دوه ستونزې چې تا ليکلي، بايد اصلاح شي. يوه دا چې اخستونکي ته ((کرايه دار)) ليکل، دويم دا چې پر وخت د قسطونو نه ورکولو له امله به ترې شيان بېرته اخستل کېږي، دا دواړه خبرې شرعاً ناجايز دي. ددې پر ځای داسې يوه لاره

ketabton.com - The Digital Library



راوباسئ چې د قسطونو ورکولو ضمانت هم لاسته درشي او د شریعت خلاف هم نه وي.

**پوښتنه: (احمد) یو موټر په نغدو اخلي، (محمود) ورته راځي او دا موټر ترې په قسطونو اخلي، نو (احمد) ورته لاندې شرایط وړاندې کوي.**

**۱- (لس زره) افغانۍ به نغدې اخلم، پاتې پیسې به هره میاشت (دوه) زره د قسط په ډول راکوې، په بازار کې د ګاړي اصلي بیه (۴۵)زره افغانۍ ده، زه به (لس) زره ګټه اخلم. یعنې (محمود) به د (۴۵) زره پر ځای (۵۵) زره افغانۍ (احمد) ته ورکوي د نغدو (لس) زره افغانیو پرته به (۴۵)زره نورې هم ورکوي.**

**۲- که موټر وسوزي، غلا شي یا له منځه ولاړ شي، په هر حالت کې به (محمود) پیسې پرې کوي.**

**۳- که (محمود) د هر څه له امله پرلپسې درې میاشتې قسطونه پرې نه کړي، نو (احمد) حق لري چې هغه موټر په خپل واک کې کړي او (محمود) ته هیڅ هم ورنه کړي.**

**ځینې وختونه داسې هم کېږي چې (محمود) ته د پیسو اړتیا وي، هغه موټر په نغدو پلوري او (احمد) ته میاشتنی قسط ورکوي. ځینې وختونه موټر شتون نه لري او (احمد) له (محمود) څخه یو څه پیسې نغدې اخلي، یو څه ورسره خپلې کوي او (محمود) ته پرې موټر اخلي. یا (محمود) ته نغدې پیسې ورکوي او موټر پرې اخلي. د بېلګې په ډول؛**

ketabton.com - The Digital Library



**((موټر (۴۵) زره افغانی بیه لري، (لس) زره (محمود) اچوي او (۳۵) زره ورته (احمد) ورکوي))**

ځواب: دلته څو مسایل ذکر شوي:

۱- یو شی په نغدو په ټیټه بیه اخستل او بیا یې په لوړه بیه په قسطونو ورکول جایز دي.

۲- کوم شخص چې هغه شی په قسطونو واخیست، هغه یې مالک شو او د قسطونو پیسې پرې کول پر ده حتمي او واجب دي، نو له دې امله هغه کولای شي دا شی بېرته خرڅ هم کړي، که به نغدو وي یا قرض.

۳- پر قسطونو اخستلو وروسته که موټر له منځه ولاړ شي، نو دا تاوان د اخستونکي دی، قسطونه به پرې کوي.

۴- دا شرط چې ؛ ((که هغه د کومې ستونزې له امله د درې میاشتو قسطونه پرې نه کړي نو (احمد) به ترې موټر اخلي او د هغه پرې شوي قسطونه به سوځي.)) دا شرعاً ناسم دی. (احمد) دا حق لري چې خپل قسطونه په قانوني ډول ترلاسه کړي، خو هغه بېرته د موټر په خپل واک کې راوستلو حق نه لري او نه د پرې شوو قسطونو خوړلو حق لري.

۵- (احمد) چې کومې پیسې له (محمود) څخه د پیشکي په ډول اخلي هغه جایز دي. والله اعلم!

ketabton.com - The Digital Library



# اخذونه


۱- حافظ ذوالفقار علی، اسلامی بینکاری کی حقیقت، دارالدعوة السلفیه لاهور.

۲- http://ahnafmedia.com/islamic-articles-urdu/item/۲۷٤٦-tjarat-aur-sood-mein-fraq

۳- http://www.shaheedeislam.com/aap-k-masaul-or-un-ka-hal/ap-k-masail-or-unka-hal-jild-٦/١٤٤٧

۴- فقه اسلامی، مترجم؛ ادیبه غیرت نوشاد، انتشارات مستقبل، ۱۳۹۲ هـ ش

۵- داود محمد نیازی، بانکوالی، گودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱لمریز کال

ketabton.com - The Digital Library



# ستوري له سختو نه تېرېږي چې سهار ته رسي !

هو! زه د اسمان په تک تور زړه کې د هغه ځلېدونکي ستوري یادونه کوم چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره په تورتم کې له سرو، تودو تېرېږي او ځان تر ګهیځه رسول غواړي.

دې‌تاند، خو په فکر پوخ زلمي راته په لومړي ځل د ژوندون ټلوېزیون په انګړ کې هغه مهال د ملګرتیا په پار لاس راکړ،چې زه پکې د خواشینۍ او یوازېتوب سیلۍ یوې او بلې خوا ته په قدم وهلو مجبور کړی وم. دلته په تنګ چاپېریال کې مې د نارنج ګلونو خوشبویي یادېدله، ما ېرته د ورتګ نغمې زمزمه کولې، خو د کنړونو په ښکلیو درو کې دې رالوی شوي زلمي زما په مړ شوي احساس کې یو ځل بیا د ژوند ساه پوه کړه.

فیاض حمید !

په دې تورو هغه انسان رابلل کېږي، چې په سختو تنګو حالاتو کې یې د ژوند تېرول زده کړي، هر مهال یې د سختې مبارزې جامې پر تن وي، خو زه یې دا ټوله وړتیا دده درنې کورنۍ پورې تړم چې په روزنه کې یې هېڅ ډول بې پروایي نه ده کړې.

دې(۲۲)کلن زلمي د کونړ ولایت په شنه، سرسبزه او د استعدادونو په حاصلخېزه سیمه (پېچ دره) کې خاپوړې کړي، د جګړو پر مهال له هېواده بهر له خپلې کورنۍ سره کډوالۍ ته هم اړ شوی، خو زده کړې یې نیمګړې‌نه دي پرېښې.

فیاض حمید اوسمهال (۱۳۹۴/کب/۱۰) د اقتصاد پوهنځي د وروستي کال زده کړیال دی، خو د خیال او فکر ماڼۍ ته یې په کتو داسې انګېرل کېږي چې د نورو زده کړو هیلې یې هم په زړه کې ساتلې‌دي. حمید نه یوازې په اقتصادي او ادبي برخه کې فعال او ځیرک ګڼل کېږي، بلکې په ژورنالېستیک ډګر کې هم ځانګړی نوم لري.

زه ورته د دعا لپاره لاسونه لپه کوم چې د ښاغلي (فیاض حمید) اوسنی استعداد دې همداسې ځانګې ځانګې وغځېږي، څو په ټوله سیمه خپلې عطروریني ورمې وشیندي. خو تر دې وروسته دې هم دا نه هېروي چې ټول ځلېدونکي ستوري په تیارو کې له سختیو تېرېږي، څو ځان تر سهاره ورسوي.

سید اسحاق سادات

د (۱۳۹۴)لمریز کال د کب (۱۰) مه

د ژوندون تلویزیون د خبرونو مدیریت

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*